د افغانســـتان اســلامي امارت

د عدلي حقوقی محکمو

د اجرا آتو

اصولنامه

پښتو او فارسی

دطبع نیټه : (۱۴۳۵) هق کال . د شعبان میاشت

د تمیز عالی ریاست خپرونه

د عدلي محکمو د اجراآتو اصولنامې فهرست

شماره	عنوان	مخ
۱	عمومي مواد	۴
۲	محکوم له او محکوم علیه	۱۲
۳	محکوم به	۲۲
۴	د محکوم علیه قیام له ځان څخه د حکم د رفع لپاره	۳۶
۵	د حکم طریقې	۵۲
۶	تناقض	۶۰
۷	د رې ګوني محکمې	۶۳
۸	اول (ابتدائیه محکمه)	۶۳
۹	دوهمه (مرافعه محکمه)	۶۵
۱۰	د تمیز ریاست	۷۸
۱۱	د حقوقو د څانګې وظایف	۸۰
۱۲	د جزا د څانګې وظایف	۸۱

پای

بسم الله الرحمن الرحيم

دعدلي حقوقي محکمو د اجرآتو اصولنامه

عمومي مواد :

۱ـ ماده :

د قضا اساسي ارکان چې يوه محکمه جوړوي په لاندي ډول دي : (۱)

الف ـ قاضي : هغه څوک دی چې حکم کوي . (۲)

ب . محکوم له : هغه څوک دی چې د هغه په ګټه حکم صادر شوی وي . (۳) .

ج محکوم علیه : هغه څوک دی چې دهغه په خلاف حکم صادر شوی وي . (۴)

د : محکوم به : هغه شی دی چې د حکم موضوع وي . (۵) .

هـ : حکم : د قاضي قضاوت دی . (۶) .

و : د حکم طریق : د قرار او فیصلې د صادرولو څرنګوالی او ډول دی . (۷) .

۲ـ ماده :

د شرع حاکم (قاضي) هغه څوک دی چې د امیرالمؤمنین یا دهغه دنائب له خوا نظر دده د اهلیت او لیاقت ته د را غلیو =

بسم الله الرحمن الرحيم

اصولنامه اجراآت محاکمات حقوقی عدلی

مواد عمومی :

مادۀ ۱ :

ارکان اساسی قضاء که یک محکمه را تشکیل میدهد قرارآتي است : (۱)

الف ـ قاضی شخصی است که حکم میکند (۲)

ب. محکوم له: شخصی است که به نفع او حکم شده باشد . (۳)

ج محکوم علیه : شخصی است که به ضرر او حکم شده باشد . (۴)

د . محکوم به : چیزی است که موضوع حکم قرار گرفته باشد . (۵)

هـ. حکم : قضاوت (قاضي) است (۶)

و. طریق حکم: طرز و روش اصدار قرار و فیصله است. (۷)

مادۀ ۲ :

حاکم شرع (قاضی) کسی است که از طرف امیرالمؤمنین ویانائب نظر باهلیت و لیاقتش برای حل و فصل =

(۱) : دررالحکام کِتَابُ الْقَضَاء ج (٤) صـ (٥٧١) .
وشرح المادة (۱۷۸۴) الاتاسی ج (۶) صـ (۹) .
(۲) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۵) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۳) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۹) . مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

(۴) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۸) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۵) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۷) . مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٦) الْمَادَّةُ (۱۷۸٦) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۷) : شرح المادة (۱۷۸۴) الاتاسی ج (۶) صـ (۱۱-۱۱۰) ج (۵) صـ (۳۸۹) .

=دعوو د حل او فصل دپاره مقـرر يږي او دشرعي مقرراتو له مخي فيصله کوي (١) .

٣ـ ماده :

قاضـي ته بنای چـې دفقه داحکامو په تيره بيا دحنفي فقه په موضوعاتو کـې پوره عالم وي او د راغليو دعوو پرقطع او د احکامو او مقرراتو په تطبيقاتو کې مقتدر او باخبروي . (٢) .

٤ـ ماده :

قاضي بايد دخلقو له عرف اوعاداتوڅخه خبروي دخلقو داحوال توپير وکړای شي . (٣)

تبصره :

قاضي ته لازم ده چـې د مملکت له اصولناموپه تـيره بيا له هغو اصولنامو چې دعدليې په چاروپوري اړه لري پوره معلومات ولري . (٤)

٥ ـ ماده :

د صغير، ليوني ، معتوه (مختل العقل) کانه ، ړانده ، قضاوت جائز نه دی . (٥)

تبصره:

ديوه غوږکون ديوې سترګې ړوند دپورته مادې له حکم څخه مستثنی دی. (٦)

=دعاوی وارده تقرر يافته وطبق مقررات شرعيه فيصله مينمايد . (١)

مادۀ ٣:

قاضـی را مـناسب اسـت درموضوعات احکام فقه بالخاصه فقه حنفی کاملا عالم وبـر قطع دعاوی وارده ، وبر تـطبيقات احکام ومقررات مقتدر وباخبرباشد . (٢)

مادۀ ۴ :

قاضی بايد ازعرف وعادات مردم باخبر باشد واحوالات مردم را تميز بتواند .

تبصره:

قاضی را لازم است از اصولنامه هائيکه مربوط بامور عدليه است کامل معلومات داشته باشد . (٣)

مادۀ ۵ :

قضاوت صغير، مجنون،معتوه (مختل العقل) کر ، وکور جائز نيست . (۴)

تبصره:

کر يک گوش ، وکور يک چشم ازحکم ماده فوق مستثنی است . (۶)

(١) : الْمَادَّةُ (١٧٨٥) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . دررالحکام جـ (٤) صـ (٥٧٢) .

(٢) : الْمَادَّةُ (١٧٩٣) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

(٣) : شرح الْمَادَّةِ (١٧٩٢) دررالحکام جـ (۴) صـ (٥٨١) .

(۴) : شرح الْمَادَّةِ (١٧٩٣) الاتاسی جـ (۶) صـ (٣٢) .

(۵) : الْمَادَّةُ (١٧٩٤) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . ومعين القضات والمفتيين صـ (۶٣) .

(۶) : المادة (١٧٩۴) الاتاسي جـ (۶) صـ (٣۴) .

۶ ـ ماده :
لازم دی چې دقاضي عقل ، صلاح ، زکاوت دقبول اواعتمادموجب وي (۱)

۷ ـ ماده :
قاضي ته لازم دی چې له هغو افعالو حرکاتو اوقولونوڅخه چې دقضا حیثیت له منځه وړي ، یا دتهمت او بدګمانی موجب وګرزي ، جدًا ځان وژغوري . (۲)

۸ ـ ماده :
قاضـي مجبوردی چـې تل ددعوی کـوونکو په منځ کـې د قضا په متعلقو چاروکـې عدل او انصاف له لاسه ور نکړي . (۳)

۹ ـ ماده :
قاضي دخپل خاص اجیر ، شریک ، منکوحې ، او د خپلو اصولو ، فروعو په باب کې ، همدا راز دهغو کسانو دپاره چې دهغو دوژوند وسیله دده له نفقې څخه تامین کـیږي ، شـرعا له قضاوت څخه ممنوع دی . (۴)

***

مادہ ۶:
لازم است عقل ، صلاح و زکاوت قاضی موجب قبول واعتماد باشد . (۱)

مادۂ ۷:
لازم است قاضی ازآن افعال ، حرکات ، واقوالیکه حیثیت قضاء را از بین ببرد ویا موجب تهمت وبدگمانی گردد جدًا اجتناب نماید . (۲)

مادۂ ۸:
قاضـی مجبور است هـمیشه میان متخاصمین در امور متعلقه به قضاء عدل ومساوات را ازدست ندهد . (۳)

مادۂ ۹:
قاضی درباب اصول ، وفروع ، ومنکوحه وشریک واجیرخاص خودوبرای کسی که امرار حیات وی ازنفقه او تامین میشود شرعا ازقضاوت ممنوع است . (۴) .

*****

***

(۱) : الْمَادَّةِ (۱۷۹۲) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . ودررالحکام جـ (۴) صـ (۵۸۱) .
(۲) : الْمَادَّةُ (۱۷۹۵) . مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۳) : الْمَادَّةُ (۱۷۹۹) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۴): الْمَادَّةُ (۱۸۰۸) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

۱۰ ـ ماده :
قاضي نشي کولای چې په خپلوقضايي چاروکې بې موجبه ځنډ اوتاخيروکړي . (۱)

تبصره : که قاضي دحکم داسبابو له موجوديت نه وروسته بې موجبه په حکم کې تاخير وکړي ، نو شرعا برسيره په تعزيري مجازاتو دعزل مستحق دی (۲)

۱۱ ـ ماده :
دقاضي قضا په زمانه ، محل ، موضوع او حادثه کې تقييد ، تخصيص او تجزيه قبلولای شي .

تبصره : که دقاضي قضاوت په کومه ټاکلې محکمه ، يا په ټاکلـي محل مقيدکيږي له هغه نه دباندي قضاوت نشي کولای . (۳) .

۱۲ ـ ماده :
قاضي نشي کولای چې بې له مقرراتو او د امارت له اجازې بل چاته دقضاوت واک ورکړي . (۴)

۱۳ ـ ماده :
دقاضـي وظيفه قضـاوت (حکم) او د مفتـي وظيفه فتـوی (د حکم اخبار ، اظهار او مشوره ورکول) دي . (۵) .

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸۲۸) . مجلة الاحکام . شرحها دررالحکام .
(۲) : شرح المادة (۸۰) دررالحکام .جـ (۱) صـ (۸۰) . وشرح (الْمَادَّةُ (۱۸۲۸) دررالحکام شرح مجلة الاحکام .
(۳) : الْمَادَّةُ (۱۸۰۱) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

مادۀ ۱۰:
قاضی نمیتواند در امور قضائی خود بی موجب تعطیل وتاخیر کند . (۱)

تبصره: اگر قاضی پس ازموجودیت اسباب حکم بـی موجب تاخـیر درحکم نماید شرعا علاوه بر مجازات تـعزیری مستحق عزل است . (۲)

مادۀ ۱۱:
قضاء قاضی بزمان ومحل وموضوع وحادثه تقیید وتـخصیص وتـجزیه را قبول میتواند .

تبصره : اگر قضاوت قاضی بکدام محکمه متعینه یا محل متعین مقید میگرددخارج آن قضاوت نمیتواند (۳)

مادۀ ۱۲:
قاضـي نـمیتواند بـدون مقـررات و اجـازه امارت دیگـري را عوض خود صلاحیت قضاوت بدهد . (٤)

مادۀ ۱۳:
وظیفه قاضـی قضاوت (حکم) است ووظیفه مفتـی فتـوی (اخبار واظهار حکم ومشوره دادن) است . (٥)

(۴) : الْمَادَّةُ (۱۸۰۵) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۵) : شرح الْمَادَّةُ (۱۶۹۶) دررالحکام جزء (۴) ص (۳۸۸) شرح الْمَادَّةُ (۱۸۱۱) دررالحکام جـ (٤) صـ (۶۱۹) . درالمختار علی هامش ردالمحتار جـ (۱) صـ (۵۵) .

۱۴ـ ماده :
دقضاوت دصحت شرط په حقوق العباد کې د شرعي دعوی تقدم دی . (۱)

۱۵ـ ماده :
په حق الله (عامه حقوقوکې) دعوی او ددعوی صحت شرط نه دی بلکي شاهد په هغې کې د مدعي حیثیت او مدعي د شاهد حیثیت لري . (۲)

۱۶ـ ماده :
کـــه مړي دخپلو صغیرانـــو دپاره وصي نه وي درولی یا صغیر مدعي او مدعـي علیه وي ، او وصي ونه لـــري ، قاضـي واک لـري چـې دهغو دپاره وصـي مقـرر کـړي ، او د وصایـت د تعلیماتنامې له موادو سره سم اجرا آت وکړي . (۳)

۱۷ـ ماده :
که مړی وارث ونه لري اوکوم شخص په هغه باندي دپور دعوی وکړي قاضي کولای شي چې له شرعي صلاحیت سره سم ددعوی وکیل وټاکي چې دا معامله حل او فصل کړي . (٤)

مادۀ ۱۴:
شـرط صحت قضاوت درحقوق عباد تقدم دعوای شرعی است . (۱)

مادۀ ۱۵:
در حق الله (حقوق عامه) دعـوی وصحت دعـــوی شـــرط نیست بلکی شاهـــد درآن حیثیت مدعـی ومدعی حیثیت شاهد را دارد . (۲)

مادۀ ۱۶:
اگر متوفی برای صغار خود وصی نصب نکرده باشد ، یا صغیر مدعـی ومدعی علیه باشد و وصی نداشته باشد قاضی صلاحیت دارد که برای آنها وصی نصب کند و بر طبق مواد تعلیماتنامهء وصایت اجراآت نماید (۳)

مادۀ ۱۷:
اگرمتوفی وارث نداشته باشد وشخصی برعلیه اودعوی دین کند قاضی میتواند حسب صلاحیت شـــرعی وکیل دعوی انتخاب کند ومعامله متذکره را حـــل وفصل نماید . (۴)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸۲۹) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . الفتاوی الکاملیة صـ (۱۰٦) .
(۲) : شرح الْمَادَّةُ (۱٦۹٦) ...التاسی جـ (۶) صـ (۱۳۳) .
(۳): شرح الْمَادَّةُ (۷۳٤) دررالحکام جـ (۲) صـ (۱۶۲) .الهندیة جـ (۲) صـ (۱۱) .
(۴) : الهندیة الباب التاسع جـ (٦) صـ (۱٥٤) والباب الثلاثون جـ (۳) صـ (٤۲۹) .

۱۸ـ ماده :
قاضي نشي کولای ددعوی د دوران په وخت کې مدعي او مدعي علیه او شاهدانو ته تلقین وکړي . (۱)

۱۹ـ ماده :
قاضي نشي کولای چې د حنفی مذهب په خلاف او یا په ضعیفو او مرجوحه مسائلوعمل وکړي ،کنه دده د فیصلې د ماتیدو موجب به شي . (۲)

تبصره :
البته د ضرورت په مهال دي دقضا لورې مقام ته مراجعه وشي .

۲۰ـ ماده :
قاضي نه شي کولای چې په کومه موضوع کې دموقوف شوي قاضي قول ته اعتبار ورکړي که څه هم بل شخص دشهادت په ډول له ده سره وي . (۳)

تبصره :
د ودیعت ، او د وقف دمنافعو موضوع له پورتنۍ مادې څخه مستثنی ده . (۴) .

مادۀ ۱۸:
قاضی نمیتواند در وقت دوران دعوی به مدعی یا مدعی علیه یا شهود تلقین کند . (۱)

مادۀ ۱۹ :
قاضی نمیتواند خلاف مذهب حنفی یا به مسائل ضعیفه و مرجوحه عمل نماید والا موجب نقض فیصله اش خواهد شد . (۲)

تبصره :
البته در وقت ضرورت بمقام عالی قضاء مراجعه نماید .

مادۀ ۲۰:
قاضی نمیتواند درکدام موضوع بقول قاضی معزول اعتباربدهداگرچه شخص دیگر بطور شهادت باوی باشد . (۳)

تبصره :
موضوع ودیعت ، ومنافع وقف ازماده فوق مستثنی است . (۴) .

(۱) : شرح الْمَادَّةُ (۱۸۱٦) دررالحکام جـ (٤) صـ (٦٢٥) الهدایة کتاب ادب القاضي جـ (۳) صـ (۱۳٦).
(۲) : شَرْحَ الْمَادَّةُ (۱۸۰۱) دررالحکام جـ (٤) صـ (٦۰٥) .
(۳) : شرح الْمَادَّةُ (۱۸۱٤) دررالحکام جـ (٤) صـ (٦۲۳) .
(۴) : اللباب شرح الکتاب ، جـ (۱) صـ (۳۸۱) . الهدایة کتاب ادب القاضي فصل في الضمان . جـ (۳) صـ (۱۳٥) . جـ (٤) صـ (٦۲۳) دررالحکام ط بیروت

۲۱ـ ماده :

قاضي کولای شي دهغه محل عالم او مفتي چې خلقو ته د خدای او دخدای دبندګانو د حقوقو د اسقاط لاره ورزده کوي مخنیوی وکړي . (۱)

۲۲ـ ماده :

قضا یو داسي حکم دی چې د شرع له حاکم څخه د هغې موضوع په نسبت په مخصوصو الفاظو او کلماتو صادریږي ، چې دهغې د لزوم حقیقت او واقعیت قاضي ته ثابتیږي ، یا هغه ده چې قاضي مدعي ، له جګړې څخه په مخصوصو الفاظو منع کوي .

دقاضي حکم په دې ډول الفاظو اداکیږي : حکم مي وکړ چې ته (...) په دې (...) موضوع کې ملزم او ملامت یې او د مدعی بها په سپارلوحکم تصریح کوي یا حکم مي وکړ چې په مدعی به کې په مدعي علیه باندي غرض مه لره .

لومړي ډول قضاته د الزام قضا اودویم ډول قضاته دترک اومنع قضاوایې . (۲)

مادۀ ۲۱ :

قاضی میتواند ازآن مفتی وعالم محیل که بمردم راه اسقاط حقوق خدا بندگان خدا را می اموزد جلو گیری نماید . (۱)

مادۀ ۲۲:

قضاء حکمی است که ازحاکم شرع بالفاظ وکلمات مخصوصه نسبت بآن موضوع صادر میشود که لزوم حقیت وواقعیت آن نزد قاضی ثابت میگردد آن است که قاضی مدعی را ازمنازعه بالفاظ مخصوصه امتناع مینماید حکم قاضی باین گونه الفاظ ادآء میشود :

حکم نمودم یا حکم کردم که تو (...) در موضوع (...) ملزم و ملامت میباشی و حکم خود را بسپردن مدعی بها تصریح مینماید ، یا حکم کردم که درخصوص مدعی به بمدعی علیه غرضدار مباش .

قضاء نوع اول راقضاء الزام وقضاء نوع دویم را قضاء ترک ومنع میگویند . (۲)

(۱) : الْمَادَّةُ (۹۶۴) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .وجوهرة النيرة ، كتاب الحجر ج (۲) ص (۴۲۹) .

(۲) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۶) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

٢٣ـ ماده :
څرنګه چې قضا د تقييد ، تخصيص او تجزيـــی ورډه ، نو د ځينو حوادثـــو او قضا ياؤ استثناء هم قبلوي . (١)

٢٤ ـــ مـاده :
قضا او عزل يې د تعليق ورډي . (٢)

٢٥ ـــ مـاده :
قضايـــې حکم په محکوم عليه پوري منحصر دی . (٣) .

تبصره :
نـــسب ، نکاح او وقف له هغـــې څخه مستثنی دي . (٤) .

٢٦ـ ماده :
قضا داستحقاق په دعوی کې له مدعي عليه څخه هغه چاته چې مالکيت ورڅخه استفاده شوی دی تجاوزکوي (٥) .

مادۀ ٢٣:
چنانکه قضاء قابل تقييد وتخصيص وتجزيه ميباشد استثنآء بعضی حوادث وقضايا را نيز قبول ميکند . (١).

مادۀ ٢٤:
قضاء وعزل آن قابل تعليق ميباشد (٢) .

مادۀ ٢٥:
حکم قضائی منحصر به محکوم عليه است . (٣).

تبصره:
نسب ، نکاح ، وقف ازآن مستثنـــی است . (٤) .

مادۀ ٢٦:
قضاء در دعوی استحقاق ازمدعـــی عليه بکسی که مالکيت ازآن استفاده شده تجاوز مينمايد . (٥) .

(١) : الْمَادَّةُ (١٨٠١) وشرح الْمَادَّةُ (١٨٠٤) .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٨٠١) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .وشرح المادة (١٨٠٤) دررالحكام جـ (٤) صـ (٦٠٩) .
(٣) : جواهرالروايات صـ (٤١) .الاشباه والنظائر صـ (١٨٤) .
(٤) : جواهرالروايات صـ (٤١) .الاشباه والنظائر صـ (٢١٩) .
(٥) :الفتاوى الكاملية صـ (١٠٩) .

٢٧ ـ ماده :
هغه قضائي حکم چې برعليه د ځينو ورثه ؤ صادريږي په حقيقت کې قضا پرکل ورثه ده . (١).

٢٨ ـ ماده :
د قضا حکم چې د يوه وارث په ګټه وي لکه د مړي پور چې د کوم شخص په غاړه ثبوت شي ، نو دقضا حکم د ټولي ورثې د پاره دی . (٢) .

٢٩ ـ ماده :
که د مدعي يا مدعي عليه او قاضي په منځ کې دنيوي عداوت ، لکه قذف (بنکنځل) جرح ، قتل ، او ضرب پېښ شي د قضا وت مانع دی ، په دې ډول موضوعاتو کې بايد قاضي قضاوت ونه کړي . (٣) .

٣٠ ـ ماده :
قضأ مظهره اوملزمه ده نه مثبته ، محکوم به په حقيقت کې ثابت امر دی او قاضي دهغه اظهار کوي . (٤)

مادۀ ٢٧:
حکم قضائی که برعليه بعضی از ورثه صدور می يابد در حقيقت قضاء برهمه افراد ورثه است . (١)

مادۀ ٢٨:
حکم قضاء که به مفاد يکی از ورثه باشد مانند دين متوفی که برذمه شخصی ثبوت شود حکم قضاء برای کل ورثه است . (٢)

مادۀ ٢٩:
عداوت دنيوی مانند قذف (دشنام) جرح ، قتل ، ضرب ، اگر بين مدعی يا مدعی عليه وقاضی وقوع يابد مانع قضاوت است درهمچو موضوعات بايد قاضی قضاوت ننمايد . (٣)

مادۀ ٣٠:
قضاء مظهر وملزم است نه مثبت محکوم به فی الحقيقت امر ثابت است وقاضی آنرا اظهار مينمايد (٤)

(١) : الفتاوى الهندية الباب الثاني عشر في دعوى الدين ج (٤) صـ (١٠٧) ط بيروت .والفتاوى الكاملية صـ (١١٢) .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٦٤٢) .مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٣) : شرح المادة (١٧٩٤) دررالحكام ج (٤) صـ (٥٨٤) . رد المحتار ، مطلب في قضاء العدو ج (٤) صـ (٣٣٤) .
(٤) : ردالمحتار . مطلب اذا قضي القاضي واخطأ ج (٤) صـ (٣٨٠) . و ج (٤) صـ (٣٣٠) .

٣١ـ ماده :
پر غائب شخص يا دهغه دپاره دحکم اصدار بې له کوم شرعي مصلحت څخه جائز نه دی . (١)

٣٢ـ ماده :
دحنفي قاضي قضا د امام ابو يوسف يا امام محمد رحمهما الله چې د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګردان دي په قول د حنفي مذهب مخالف نه بلله کيږي . (٢)

مادۀ ٣١:
اصدار حکم برعليه يا برله شخص غائب بدون کدام مصلحت شرعی جائز نيست . (١)

مادۀ ٣٢:
قضاء قاضی حنفی بقول امام ابويوسف يا امام محمد رحمهما الله که تلامذ ابوحنيفه رحمه الله مخالف مذهب حنفی شمرده نميشود . (٢)

محکوم له او محکوم عليه

٣٣ـ ماده :
محکوم له هغه څوک دی چې د قاضي حکم دده په مادي يا معنوي ګټه صادر شي که مدعي وي يا مدعي عليه وي (٣)

مادۀ ٣٣:
محکوم له : کسی است که حکم قاضی بمفاد مادی يا معنوی او صادر شود ،مدعی باشد يا مدعی عليه . (٣)

(١) : کتاب القضاء ردالمحتار مطلب المسائل التي يکون القضاء فيها على الحاضر قضاء على الغائب ج (٤) صـ (٣٧٧) . (٢) : مَطْلَبُ حُكْمِ الْحَنَفِيِّ الخ . ردالمحتار ج (٣) صـ (٤٠٩) . ج (٤) صـ (٣٧٢) . وشرح الْمَادَّةُ (١٨٠١)ج (٤) صـ (٦٠٤) دررالحکام .
(٣) : الْمَادَّةُ (١٧٨٩) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ ودررالحکام .

۳۴ـ ماده :
محکـوم علیه هغه څوک دی چـې دده دمقابل جانب د حق د اثبات یا حمایـې په غرض پرده باندي حکم صادریږي ، که مدعي وي یا مدعي علیه وي . (۱)

۳۵ـ ماده :
هغه څوک چـې اقـرار یې دمدعـي په مقابل کـې اعتبار ولـري ، دانکار په صورت کـې مدعي علیه کـیدای شي مدعي علیه دعین (شـي) په دعوی کې ذوالید دی . (۲)

۳۶ـ ماده :
محکوم له اومحکوم علـیه د محاکمو دحضور په لومړۍ مرحله کـې امتیاز کـیدای شـي ، مګـر کله کله ددې په عکس چـې مدعـي په عین حال کې مدعـي علیه او مدعـي علیه مدعـي ګرځـي ، حتـی کله کله دا مـعکوس صورت هم خپل لومړني حالت ته اوړي . (۳)

مادۀ ۳۴:
محکوم علیه : کسی است که بغرض اثبات حق یاحمایه جانب مقابلش برعلیه اوحکم صادر میشود خواه مدعی باشد یا مدعی علیه . (۱)

مادۀ ۳۵:
کسـی که اقرارش درمقابل مدعـی اعـتبار داشـته باشـد درصورت انکار مدعـی علیه شـده مـیتواند ، مدعی علیه در دعوی عـین (شـی) شـخص ذوالید است . (۲)

مادۀ ۳۶:
محکوم له ومحکوم علیه در مرحله اول در حضور محاکم امـتیاز شـده میتواند اما گاهی بالعکس که مدعی درعـین حال مدعـی علیه ، ومدعـی علیه ، مدعی میگردد ، حتی گاهی این صورت معکوس نیز بحالت اولی خود عودت میکند . (۳)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۸) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(۲) : الْمَادَّةُ (١٦٣٤) و (١٦٣٥) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . شرح المادة (١٦٣٣) دررالحكام جـ (٤) صـ (٢٢٧) .دررالحكام جـ (٤) صـ (٢٥٨) .
(۳) : الْمَادَّةُ (١٦٣٢) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .شرحها جـ (٤) صـ (٢٢٣) دررالحكام .

٣٧ ـ ماده :
د دعوو په انفصال کې محکوم له او محکوم علیه شخصا یا وکیل ، وصي ، ولي او دهغوی قیم د قاضي حضورته حاضربدای شي . (١) .

٣٨ ـ ماده :
صغیر، لېونی ، معتوه ،غائب ، محجور (ممنوع التصرف) او دهغو په شان بالذات له چا سره شرعي خصم نشي کېدای . (٢).

٣٩ ـ ماده :
څرنګه چې د قضا دمحفل دتشکیل او دحکم دصحت دپاره دخصمینو حضور شرط دی نوځکه دمدعي مقابل جانب به هغه څوک وي چې دهغه له تصرف څخه دمالکیت استفاده کیدای شي او خپل تصرفات په مالکانه ډول ښکاره کړي . (٣).

تبصره :
دمودع، مستعیر تصرف اودهغوپه شان له شرعي مخاصمې څخه مستثنی دي (٤).

مادۀ ٣٧ :
در انفصال دعاوی محکوم له ومحکوم علیه شخصًا ویا وکیل وصی ، ولی قیم شان نزد قاضی حاضر شده میتواند . (١).

مادۀ ٣٨ :
صغیر، مجنون ، معتوه ،غائب محجور (ممنوع التصرف) وامثال شان بالذات باکسی خصم شرعی شده نمیتوانند(٢)

مادۀ ٣٩ :
چون برای تشکیل محفل قضاء وصحت حکم ، حضور خصمین شرط است لذا جانب مقابل مدعی کسی باشدکه از تصرف او استفاده مالکیت شده بتواند وتصرفات خود را بطور مالکانه اظهار نماید . (٣)

تبصره :
تصرف مودع ، مستعیر و امثال آن ازمخاصمه شرعی مستثنی است (٤)

(١): المادة : (١٨٣٠) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .وشرح المادة (١٧٨٩) جـ (٤) صـ (٥٧٧) دررالحكام .وشرح الْمَادَّةُ (١٨٣٠) دررالحكام جـ (٤) صـ (٦٦٧).

(٢): الْمَادَّةُ (١٦١٦) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . الهندية كتاب الدعوى الباب الاول جـ (٤) صـ (٢).

(٣) : الْمَادَّةُ (١٦٧٩) و (١٨٣٠) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

(٤) : الهداية ، كتاب الوكالة جـ (٣) وشرح المادة (١٦٣٧) جـ (٤) صـ (٢٣٧) .

۴۰ ـ ماده :
که څوک په هغه مال چې خرڅ شوی دی دملکیت ادعا وکړي ،نو په دې صورت کې که پیرودونکی (مشتري) هغه مال د پلورونکي (بائع) له لاسه قبض کړی وي ، نو پیرودونکی مدعي علیه دی د بائع حضورته کوم ضرورت نشته اوکه دپلورونکي په لاس کې وي نودمحاکمې د پاره د دواړوحضور حتمي دی . (۱)

مادۀ ۴۰:
اگر شخصی برمالی که خریده شده ادعای ملکیت نماید درصورتی که خریدار آن مال را از دست بائع قبض نموده باشدخریدار مدعی علیه میبا شد وبحضور بائع ضرورتی نیست ، واگردر دست بائع باشد برای محاکمه حضور هردو حتمی است . (۱)

۴۱ ـ ماده :
که د ودیعت ، عاریت ، اجارې یا رهن دعوی په چا باندي اقامه شي نو د مستودع ، مستاجر ، مرتهن ، حضور ، سره له مودع ، معیر ، مؤجر ، راهن چې هریو له هغو څخه شرعي خصم بلل کیږي ضروري دی . (۲)

مادۀ ۴۱:
اگر دعوی ودیعت یا عاریت یا اجاره یا رهن برعلیه کسی اقامه شود حضور مستودع ، مستعیر ، مستاجر ، مرتهن با مودع ، معیر، موجر ، راهن که هریک از آنها را خصم شرعی گفته میشود ضروری است . (۲)

۴۲ ـ ماده :
که کوم شی دچاپه لاس کې ودیعت ، مستعار، مأجور، مرهون وي اوبل شخص هغه غصب کړي نوهریو مستودع ، مستعیر ، مستأجر او مرتهن کولای شي چې په غاصب باندي خپله دعوی اقامه کړي =

مادۀ ۴۲ :
اگرچیزی بدست کسی ودیعت ،مستعار ماجور، مرهون باشد وشخص دیگر آن را غصب نماید هرکدام مستودع ، مستعیر ، مستاجر ، مرتهن میتواند که برغاصب دعوی خود را اقامه نماید =

(۱): الْمَادَّةُ (١٦٣٦) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .
(۲) : الْمَادَّةُ (١٦٣٧) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .

= د مالک حضور ضرورت نه لري ، مګر که مالک يې دعوی وکړي او مدعی به له پورتني قراره د ذکر شويو کسانو په لاس کې وي د ټولو حضور ضروري دی . (١) .

= حضور مالک ضرورت ندارد ، ولی اگر مالک آن دعوی کند ومدعی به قرار فوق بدست اشخاص متذکره باشد حضور همه ضروری است . (١)

٤٣ ـ ماده :
مستودع (هغه څوک دی چې امانت دده په لاس کې دی) خصم (مدعي عليه) د خريدار کيدای نشي . (٢)

مادۀ ٤٣ :
مستودع (کسی که امانت در دست اوست خصم (مدعی علیه) خریدار شده نمیتواند . (٢)

٤٤ ـ ماده :
مستودع خصم (مدعي عليه) د مودع د دائن (هغه څوک دی چې مال امانت ورکوي) کيدای نشي . (٣)

مادۀ ٤٤ :
مستودع خصم (مدعی علیه) دائن مودع (کسی که مالش امانت میدهد) شده نمیتواند . (٣)

٤٥ ـ ماده :
د مودع دائن ، مثبته دين له هغو پيسو چې په وديعت له مستودع څخه دي اخيستلای نشي . (٤)

مادۀ ٤٥ :
دائن مودع دین مثبته را از پولیکه بودیعت نزد مستودع است گرفته نمیتواند . (٤)

٤٦ ـ ماده :
د خصم (مدعي عليه) د مديون ، مديون د لومړي دائن مديون نشي کيدای . (٥)

مادۀ ٤٦ :
مدیون ، مدیون خصم (مدعی علیه) دائن اول شده نمیتواند . (٥)

(١) : الْمَادَّةُ (١٦٣٧) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٦٣٨) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . وشرح الْمَادَّةُ (١٦٣٣) دررالحكام جـ (٤) صـ (٢٢٧) .
(٣) : الْمَادَّةُ (١٦٣٩) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٤) : الْمَادَّةُ (١٦٣٩) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٥) : الْمَادَّةُ (١٦٤٠) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

۴۷ ـ ماده :
د مړه دا ئن دمړه له ذمګي دين څخه د مړه (دورثه ؤ په موجوديت کې) پر مديون دعوی نشي کولای . (۱)

۴۸ ـ ماده :
دخصم (مدعي عليه) د پيرودونکي له پيرودونکي سره د ثمنو په غوښتنه کې بائع مخاصم نه شي کيدای ، بلکي له لومړي پيرودونکي سره به مخاصمه کوي . (۲)

۴۹ ـ ماده :
پرته د ارث له شراکته نور شريکان يو د بل په ځای مخاصمه نه شي کولای . (۳).

تبصره :
که څوک پر مشترک مال ، پرته له ميراثه د ملکيت دعوه وکړي ، وروسته له ثبوته دهغه دپاره دقضا حکم صادر شي نو دا حکم په خپله د مدعي عليه په برخه منحصر دی ، د نورو شريکانو برخو ته تجاوز نه شي کولای . (۴).

مادۀ ۴۷ :
دائن متوفی از دين ذمگی متوفی با موجوديت ورثه برمديون متوفی دعوی کرده نميتواند . (۱)

مادۀ ۴۸:
مشتری ، مشتری خصم (مدعی عليه) بائع درمطالبه ثمن شده نميتوا ند ، بلکی با مشتری اول مخاصمه مينمايد . (۲)

مادۀ ۴۹ :
غير از شراکت ارث ديگر شرکاء يکی عوض ديگر مخاصمه کرده نميتواند (۳)

تبصره :
اگر کسی برمال مشترک غير ميراث دعوی ملکيت کند بعد ازثبوت برايش حکم قضاء صادر گردد حکم مذکور بر حصه خود (مدعی عليه) منحصر است به حصص ديگر شرکاء تجاوز کرده نميتواند . (۴)

(۱): الْمَادَّةُ (١٦٤٠) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .
(۲) : الْمَادَّةُ (١٦٤١) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .
(۳) : الْمَادَّةُ (١٦٤٣) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .
(۴) : الْمَادَّةُ (١٦٤٣) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .

٥٠ ـ ماده :
که مدعی به ، د عامه ؤ له حقوقو څخه وپیژندلی شي نو یو له شریکانو څخه مدعي کیدای شي ، او دهمغه یو نفر پر دعوی دقضا حکم مرتب کیږي . (١)

تبصره :
که دکلي خلک له سلو تنو څخه زیات وي دمشترکه شیانو په دعووکې لکه ویاله ، مرعی (څړځای) دمحاکمې دجریان په غرض له هغو څخه د ځینو حضور کفایت کوي . (٢)

٥١ ـ ماده :
د نسب اثبات په مختلفو مواقعوکې بالمقابل پنځه تنه کیږي د مړي وارث وصي،موصی له،دائن اومدیون . (٣)

٥٢ ـ ماده :
که صغیر مدعي علیه یا مدعي وي ، نو دده د وصي یا ولي حضور کفایت کوي د صغیر حضورته ضرورت نشته . (۴)

مادۀ ۵۰:
اگر مدعی به ازحقوق عامه شناخته شود یکی از شرکاء مدعی شده میتوا ند وبر دعوی همان یکنفر حکم قضاء مرتب میشود . (١)

تبصره:
اگراهالی قریه از تعداد صد نفر متجاوز باشند در دعاوی اشیآء مشترکه مانند جوی ، مرعی ، (چراگاه) حضور بعضی ازآنها بغرض جریان محاکمه کفایت میکند . (٢)

مادۀ ۵۱:
اثبات نسب درمواقع مختلفه بالمقابل پنج نفرمیشود وارث ، وصی ، موصی له ، دائن ، مدیون متوفی . (٣)

مادۀ ۵۲:
اگر صغیر مدعی علیه ، یا مدعی باشد حضور وصی یا ولی او کفایت میکند بحضورصغیرضرورتی نیست . (۴)

(١) : الْمَادَّةُ (١٦٤٤) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٦٤٥) و (١٦٤٦) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .
(٣) : البزازية على الهندية ج (٥) صـ (٣٥۶ ـ ٣٠٩) ، تنقيح الحامدية كِتَابُ الدَّعْوَى ج (٢) صـ (١۴). تكملة ردالمحتار كتاب الدعوي ج (١) صـ (٣١۴) .
(۴) : الْمَادَّةُ (١٦١٦) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .الفتاوى الهندية ، ج (٣) صـ (٤٢٧) . شرح الْمَادَّةُ (١٦١٦) دررالحكام ج (٤) صـ (١٧٩) والاتاسى ج (٥) صـ (٩).

۵۳ ـ ماده :
د میړونې ښځې د نکاح په دعوی کې د قاضي په مخ کې دهغې دمیړه حضور ضروري دی . (۱) .

۵۴ ـ ماده :
د هغې ښځې دنکاح په دعوی کې چې کبیره وي او په هغې کې د پلار تزویج استناد شوی وي ، په دعوی کې دهغې د پلار حضور حتمي نه دی . (۲)

۵۵ ـ ماده :
که دوه تنه دیوې ښځې په باره کې د نکاح دعوی ولري اوښځې له دې دواړو څخه په یوه اقرار او د بل له نکاح څخه انکار وکړ ، اول پورتني دوه تنه مدعي او مدعي علیه پیژندل کیږي . (۳)

۵۶ ـ ماده :
که دوه تنه دیوشي په خصوص کې له یو نفر څخه د پیرودني دعوی وکړي ، او دمال خاوند په یوه اقرار او له بل څخه انکار وکړي ، اول دوه تنه مدعي او مدعي علیه بلل کیږي . (۴)

مادۀ ۵۳ :
در دعاوی نکاح زن شوهردار حضور شوهرش عندالقاضی ضرور است .(۱)

مادۀ ۵۴ :
در دعوی زنی که کبیره باشد ودرآن بتزویج پدرش استناد شده باشدحضور پدرش دردعوی حتمی نیست . (۲)

مادۀ ۵۵ :
اگر دونفر راجع به یک زن دعوی نکاح داشته باشند وزن بیکی ازآن دونفراقرار ، وازنکاح دیگری انکارآورد اول دونفر فوق مدعی ومدعی علیه شناخته میشوند . (۳)

مادۀ ۵۶ :
اگر دو نفر راجع به یک (شی) از یکنفر دعوی خریداری نمایند ، ومالک مال به یکی اقرار ، وازدیگری انکار کند اول دونفرفوق مدعی ومدعی علیه شناخته میشوند . (۴)

(۱): الهندية ج (۳) صـ (٤٢٧) تكملة ج (۲) صـ (١١٦).
(۲) : البحر ج (۷) صـ (١٩٥) . رد المحتار ج (٤) صـ (٤٨٦) تكملة ج (۱) صـ (٣١٤) .
(۳) : الهندية ج (٤) صـ (۷۸) .
(۴) : الهندية ،كتاب الدعوي ج (٤) صـ (۲۹) .

۵۷ ـ ماده :

که څه هم شرعا دمدعي او مدعي علیه محاکمه په علني ډول اجراء کیږي مګر کوم حکم چې اراده شوی وي باید پخوا له اصدار څخه افشا نشي . (۱)

۵۸ ـ ماده :

څرنګه چې ددواړوخواوو (مدعي اومدعي علیه) حضور دقضا د صحت شرط دی نوکه یوه شخص پر بل باندي خپله دعوی وړاندي کړه اومدعي علیه اقرار وکړي ، مګر دحکم په وخت کې ځان ګونبه کړي یا مدعی علیه وروسته د شاهدانو له شاهدي اوپخوا له تزکیې خپل ځان غائب کړي قاضي په پورتني دواړو صورتوکې کولای شي چې مدعي علیه حاضروبولي اجراآت وکړي . (۲)

۵۹ ـ ماده :

که د مړه د متروکې په خصوص کې له یوه وارث سره دعوی دائره شي اودا وارث حاضر شي ، ددعوی له اقامې اوشرعي ثبوت څخه وروسته د حکم له اصدارځخه پخوا غائب شي او بل وارث چې د دعوی په جریان کې حاضر نه وي حاضر شي قاضي کولای شي په داسي حال کې چې دئ دفاع ونکړي پرده باندي خپل حکم صادر کړي . (۳)

مادۀ ۵۷ :

اگر چه شرعًا محاکمه مدعی ومدعی علیه بطور علنی اجرآء میشود ولی حکمی که اراده شده باشد باید قبل از اصدار افشا نشود . (۱)

مادۀ ۵۸ :

چون حضور طرفین (مدعی ومدعی علیه) شرط صحت قضاء است اگر شخصی برعلیه دیگری دعوی خود را تقدیم کند ومدعی علیه اقرار کند اما دروقت حکم خود را کناره نماید ویا مدعی علیه بعد از شهادت شهود قبل از تزکیه خود را غائب گرداند قاضی در هردوصورت فوق میتواندکه مدعی علیه را حاضر دانسته اجراآت نماید . (۲)

مادۀ ۵۹ :

اگر راجع بمتروکه متوفی با یکی از ورثه دعوی دائرگردد واین وارث حاضر شده بعد از اقامه دعوی وثبوت شرعی قبل از اصدار حکم غائب گردد ووارث دیگرکه درجریان دعوی حضورنداشته حاضر شود قاضی میتوا نددرحالیکه وی دفاع نکند برعلیه او حکم خود را صادر کند . (۳)

---

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸۱۵) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .

(۲) : الْمَادَّةُ (۱۸۳۰) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ. الاتاسي ج (٦) صـ (۱۳۵) .

(۳) : الْمَادَّةُ (۱۸۳۲) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . والاتاسي ج (٦) صـ (۱۳۸) .

۶۰ ـ ماده :

که مدعي علیه ددفاع په حال کې ووایې چې مدعي ، مدعی به وروسته له دعوی د پیرودني ، داجاري، هبې یا ودیعت په صورت له هغه څخه غوښتي ، یا مدعي بها ښځه یې طلبګاري کړي لکه اقرار غوندي دمدعي دالزام دحکم موجب دی . (۱)

مادۀ ۶۰ :

اگر مدعی علیه درحال دفاع بگوید که مدعی به را بعد از دعوی بصورت خریداری یا اجاره یا هبه یا ودیعت ازوی درخواست نموده ، ویا زن مدعی بها را طلبگاری کرده مانند اقرار موجب حکم الزام مدعی است . (۱)

۶۱ ـ ماده :

همدا ډول دمدعی بها د تقسیم پر غوښتنه اقدام اقراردی پردې چې مدعی بها ددوی په منځ کې مشترکه ده . (۲)

***

مادۀ ۶۱ :

همچنین اقدام بر طلب تقسیم مدعی بها اقرار است بر اینکه مدعی بها بین شان مشترک میباشد . (۲)

***

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۵۸۳) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ . الفتاوى الكاملية صـ (۱۱۵) .

(۲) : الْمَادَّةُ (۱۶۵۶) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ . الفتاوى الكاملية صـ (۱۵۱) .

محکوم به (۱)

۶۲ ـ ماده :

مدعي به په څلورو ډولو ويشل کيږي : (۲)

لومړی : دخدای محضه حقوق (عامه حقوق) چې دهغو فعل يا ترک په يوه يا څوتنوپوري اختصاص ونه لري ضرر اوخساره يې عامه يا په ګټوروعمومي چارو پوري مربوط وپيژندل شي .

دويم : خالص حق العبد لکه قضاوت په اموالو او دهغو په امثالو کې چې په يوه يا څو تنو پوري ارتباط لري .

دريم : د حق العبد اوحق الله مشترکه حقوق چې په هغو کې حق الله غلبه ولري ، لکه قذف ، د سرقې حد .

څلورم : د حق الله اوحق العبد مشترکه حقوق چې په هغوکې د بنده حق غالب وي لکه قصاص او حق العبدي تعزيرات . (۳)

مادۀ ۶۲ :

محکوم به: به چهار قسم تقسیم میشود : (۲)

اول : حقوق مختصه خدا (حقوق عامه) که فعل وترک آن بیک یا چند نفر اختصاصی نداشته باشد ضرر وخساره آن عام ویا عائد بامور عمومی شناخته میشود .

دویم : حق العبد خالص مانند قضاوت در اموال وامثال آن که بایک ویا چند نفر ارتباط دارد .

سویم : حقوق مشترکه حق العبد وحق الله که درآن حق الله غلبه داشته باشد مانند حد قذف ، وحد سرقه .

چهارم : حقوق مشترکه حق الله وحق العبد که درآن حق بنده غالب باشد مانند قصاص ، تعزیرات حق العبدی . (۳)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۷۸۷) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ .

(۲) : شرح الْمَادَّةُ (۱۷۸۷) درر الحكام جـ (٤) صـ (٥٧٦) . ط عربية

(۳): شرح الْمَادَّةُ (۱۷۸۷) درر الحكام جـ (٤) صـ (٥٧٦) . وشرح الْمَادَّةُ (۱۷۸٤) الاتاسي جـ (٦) صـ (١٠) .

۶۳ـ ماده :

د دعوو دصحت شرط هغه دی چې مدعی به معلوم او معین وي . (۱)

تبصره :

باید دمدعی به جنس او اندازه دقاضي په حضورکې بیان کړل شي . (۲)

۶۴ـ ماده :

مدعی به په اشاره یا وصف ، تعریف او قیمت معلومیږي .

تبصره :

که مدعی به دقضا په مجلس کې حاضر وي دمدعي اوشاهدانوپه اشاره کفایت کیدای شي ، او په غیاب کې د مدعی به قیمت ، تعریف ، او توصیف حتمي دی . (۳)

۶۵ـ ماده :

قاضي دقیمت په تعیین کې له باخبرو ځایو او رسمي دوائروڅخه معلومات اخلي . (۴)

۶۶ـ ماده :

د نامعلومه شي دعوی د اورېدو وړ نه ده . (۵).

مادۀ ۶۳:

شرط صحت دعوی آنست که مدعی به معلوم ومعین باشد . (۱)

تبصره:

باید جنس ومقدار مدعی به بحضور قاضی بیان کرده شود . (۲)

مادۀ ۶۴:

مدعی به، باشاره ، یا وصف ، وتعریف ، وقیمت معلوم میشود .

تبصره :

اگر مدعی به حاضر مجلس قضاء باشد باشاره مدعی ، وشهود کفایت شده میتواند ، و در غیاب : قیمت ، وتعریف ، وتوصیف مدعی به حتمی است . (۳)

مادۀ ۶۵:

قاضی درتعیین قیمت ازمنابع خبیر و د وآئر رسمی معلومات میگیرد (۴)

مادۀ ۶۶:

دعوی چیزی مجهول قابل استماع نیست . (۵)

(۱) : الْمَادَّةُ (١٦١٩) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . ودررالحكام جـ (٤) صـ (٥٧٦) .

(۲) : الْمَادَّةُ (١٦٢٠) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . الهندية جـ (٤) صـ (٣).

(۳) : الْمَادَّةُ (١٦٢٠) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

(۴) : الْمَادَّةُ (٤١٤) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ.

(۵) : الْمَادَّةُ (١٦١٩) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . والاتاسي جـ (٦) صـ (٩٢) .

تبصره :
دغصب ، رهن ، وصيت ، ابرآء اواقرار دعوی ګاني له پورتنی مادې څخه مستثنی دي (١)

٦٧ ـ ماده :
قاضي په هغو شيانوکې چې احضار يې محکمې ته متعذر (مشکل) وليدل شي کولای شي چې خپل امين اومعتمد سړئ ددعوی د صحت په غرض هغه ځای ته چې مدعی به هلته ده واستوي اودمدعي اشاره به هغه وګوري او خپل اطمنان په دې سره چې مدعی به معلوم دی حاصل کړي . (٢)

٦٨ ـ ماده :
په مختلف الجنس او مختلف النوع او مختلف الصنف شيانو کې لکه د يو سمسار، بنجاره (پرچون) ددکان مالونه دهغه د قيمت په ذکرکولوجملتا (اجمالا) کفايت کېدای شي ، که څه هم د هر يوه قيمت ځانګړی ونه ويل شي . (٣)

٦٩ ـ ماده :
د غلا په دعوی کې د غلا شويو مالونو دقيمت ذکر شرط دی . (٤) .

تبصره:
دعوی رهن ، غصب ، وصيت ، ابرآء ، واقرار ازماده فوق مستثنی است . (١)

مادۀ ٦٧:
قاضی در چيزهای که احضار آن در محکمه متعذر (دشوار) ديده شود ميتواند شخصی امين ومعتمد خود را بغرض صحت دعوی در جائيکه مدعی به است فرستاده ، و اشاره مدعی را بآن ملاحظه نموده اطمنان خود را در اينکه مدعی به معلوم است حاصل کند . (٢)

مادۀ ٦٨:
در چيزهای مختلف الجنس ، ومختلف النوع ، ومختلف الصنف ، مانند اموال دکان يک سمسار ، بنجار (پرچون) بذکر قيمت آن جملتًا (اجمالا) کفايت شده ميتواند اگرچه قيمت هرکدام آن عليحده گفته نشود . (٣)

مادۀ ٦٩:
در دعوی سرقه ذکر قيمت اموال مسروقه شرط است . (٤)

(١) : شرح الْمَادَّةُ (١٦١٩) درر الحکام ج (٤) صـ (١٨٤) .
(٢) : شرح المجلة رستم باز ج (٢) صـ (٧١٤) .
(٣) : الْمَادَّةُ (١٦٢٢) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ.
(٤): درالمختار علی هامش ج (٤) صـ (٤٦٨) . ردالمحتار ج (٧) صـ (٤١٦) .

۷۰ ـ ماده :
د ودیعت په دعوی کې که خاوند یې دهغه د تسلیم موضوع ته تخصیص ورکړی وي باید محل یې ذکر کړي .(۱)

۷۱ ـ ماده :
د مستهلکه شیانو په دعوی کې دهغو دقیمت ، جنس ، او ډول بیان د دعوی د صحت شرط دی . (۲)

۷۲ ـ ماده :
د حیواناتو په دعوی کې د ذکورت ، انوثت ، او قیمت بیان د دعوی دصحت شرط دی . (۳)

۷۳ ـ ماده :
باید مدعی به محتمل الثبوت وي ، دهغو شیانو دعوی چې عقلا یا عادتا مستحیل وي نه اوربدله کیږي . (۴)

۷۴ ـ ماده :
که مدعی به پور وي ، دهغه د جنس ، ډول ، صفت ، اندازه ، او سبب بیان ضروري دی . (۵)

مادۀ ۷۰:
در دعوی ودیعت اگر صاحب آن موضع تسلیم آنرا تخصیص داده باشد ، باید محل آنرا ذکر نماید . (۱)

مادۀ ۷۱:
در دعوی اشیآء مستهلکه بیان جنس ونوع وقیمت آن شرط صحت دعوی است . (۲)

مادۀ ۷۲:
در دعوی حیوانات بیان ذکورت ، انوثت ، قیمت ، شرط صحت دعوی است . (۳)

مادۀ ۷۳:
باید مدعی به محتمل الثبوت باشد ، دعوی چیزی که عقلا یا عادتًا مستحیل باشد شنیده نمیشود . (۴)

مادۀ ۷۴:
اگر مدعی به : دین باشد بیان جنس ، نوع ، صفت ، مقدار ، وسبب آن ضروری است . (۵)

(۱) : درالمختار علی هامش ج (۴) صـ (۴۶۸) . ردالمحتار ج (۷) صـ (٤١٦) .
(۲) : الهندیة ج (۴) صـ (۶) . شرح المادة (۱۶۲۰) دررالحکام ج (۴) صـ (۱۸۸) .
(۳) : الهندیة ج (۴) صـ (۵) .
(۴) : الْمَادَّةُ (١٦٢٩) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . الکاملیة صـ (۱۱۷) .
(۵) : الْمَادَّةُ (١٦٢٦) و (١٦٢٧) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

٧٥ ـ ماده :
پر مړي باندي د پور په دعوی کې باید مدعي په خپله دعوی کې ذکر کړي چې مړئ ددې پور له اداء څخه پخوا مړشوی دی او له دې پور څخه دده ترمرګه پوري ماته هیڅ شی نه دی رسېدلی . (١)

٧٦ ـ ماده : دمړه دپورپه دعوی کې دي دده متروکه ذکرشي او شاهدان دي هم (٧٤ـ٧٥) ماده په نظر کې ونیسي . (٢)

تبصره: د شهودو له موجودیت سره سره قاضی کولای شی احتیاطامدعی ته قسم راجع کړي. (٣)

٧٧ ـ ماده : د پورونو دعوی داسبابو د اختلاف له مخي جزوي توپیر پیدا کوي دمثال په ډول دسلم په دعوی کې دهغه درسیدلودمحل ذکرشرط دی او دمبیعې په ثمنو کې دهغه ذکر شرط نه دی ، په پورکې د تاجیل اود هغه درسولودمحل ذکر ته ضرورت نشته . (۴)

٧٨ ـ ماده : د پور په دعوی کې دي واضح شي چې مدعي خپل شخصي ملکیت مدعي علیه ته پور ورکړی دی او مدعي علیه هغه په مصرف رسولی دی . (۵)

مادۀ ۷۵:
در دعوی دین بر متوفی باید مدعی در دعوی خود ذکر نماید که متوفی قبل از ادای دین مذکور فوت نموده ، واز دین مذکور تا وقت مردنش چیزی برایم نرسیده است . (١)

مادۀ ۷۶: دردعوی دین متوفی متروکه اش ذکر شود وشهود نیز طبق ماد (۷۴ـ ۷۵) را درنظر داشته باشند . (٢)

تبصره : با وجود شهود قاضی میتواند احتیاطا بمدعی قسم راجع کند . (٣)

مادۀ ۷۷:
دعاوی دیون بنأ براختلاف اسباب تفاوت جزوی را بوجودمی آورد مثلا در دعوی سلم ذکر محل رسانیدن آن شرط است ودرثمن مبیع ذکرآن شرط نیست ودرقرض به بیان تاجیل ومحل رسانیدن آن ضرورتی نمیباشد . (۴)

مادۀ ۷۸:
ایضاح شود که مدعی ملکیت شخصی خود رابه مدعی علیه قرض داده ومدعی علیه آنرابمصرف خودرسانیده است (۵)

(١) : شرح الْمَادَّةُ (١٦٢٦) دررالحکام جـ (٤) صـ (٢٠٣) . وتکملة رد المحتار جـ (١) صـ (٣٣١) .
(٢) : جواهرالروایات صـ (۶۰) .
(٣) : الْمَادَّةُ (١٧۴۶) مجلة الاحکام . وشرح المادة (١٧۴۶) جـ (۴) صـ (۴٩٩) دررالحکام .
(۴) : بحرالرائق جـ (٧) صـ (١٩۵) ط رشیدیه کوئته
(۵) : الهندية جـ (٣) صـ (٣٢٦) و جـ (۴) صـ (٣) . جامع الفصولين جـ (١) صـ (٧۴) . البحرالرائق جـ (٧) صـ (٢٠١) .تکملة رد جـ (١) صـ (٣٣١) . الفتاوي الکاملية (١٢٣)

۷۹ ـ ماده :
دتملیک په دعوو کې شرط دی چې دا توضیح ورکړه شي چې تملیک بې عوض دی اوکه په عوض سره دی .(۱)

۸۰ ـ ماده :
د هبې په دعوو کې شرط دی چې د موهوب له قبض ذکر شي . (۲)

۸۱ ـ ماده :
دعقودو په دعووکې لکه بیع ، اجاره ، رهن ، اونور د ملکیت په اسبابوکې د رضا اورغبت ذکر ضروري دی . (۳)

۸۲ ـ ماده :
دپلورنې، پیرودني، اجارې اونورو عقودو په دعووکې باید ملکیت مدعي علیه ته انتساب شي . (٤)

۸۳ ـ ماده :
د مدعي او مدعي علیه د عقل اوبلوغ اظهار د عقودو د اثبات په غرض ددعوی دصحت شرط دی . (۵)

مادۀ ۷۹:
در دعاوی تملیک شرط است که توضیح داده شود تملیک بلاعوض است یا باعوض . (۱)

مادۀ ۸۰:
در دعاوی هبه شرط است که قبض موهوب له ذکر شود . (۲)

مادۀ ۸۱:
در دعای عقود مانند بیع ، اجاره ، رهن ، وغیره اسباب ملکیت وذکر رضاء ورغبت ضروری است . (۳)

مادۀ ۸۲:
در دعاوی بیع ، شراء ، اجاره ، وسائر عقود باید ملکیت به مدعی علیه انتساب شود . (۴)

مادۀ ۸۳:
اظهار عقل وبلوغ مدعی ومدعی علیه بغرض اثبات عقود شرط صحت دعوی است . (۵)

(۱) : شرح الْمَادَّةُ (۱٦۲۰) دررالحکام جـ (٤) صـ (۱۸۷) . تکملة رد جـ (۱) صـ (۳۹۱) .
(۲) : بحرالرائق جـ (۷) صـ (۳۵) .
(۳) : جواهرالروایات صـ (۳۹ ـ ٦۰) .شرح المادة (۱٦۲۰) دررالحکام جـ (۴) صـ (۱۸۷) . بحرالرائق جـ (۷) صـ (۲۰۲) . الفتاوی الکاملیة صـ (۱۱٦) .
(۴) : جواهرالروایات صـ (۳۹) .
(۵) : الْمَادَّةُ (۱٦۱٦) مجلة الاحکام . دررالحکام جـ (٤) صـ (۱۵۷) .

٨٤ ـ ماده :
دجامې په دعووکې لکه کمیس او نور، برسیره د نوع ، جنس ، صفت او قیمت په ذکر باید دا توضیح شي چې دا جامه د نارینه ده اوکه ښځو، کوچنۍ ده یا لویه (١)

٨٥ ـ ماده :
د تـقسیم په دعوی کـې باید مدعـي د تراضي برخه او قضایي برخه یوه له بلي جلاکړي او توضیح ورکړي چې تقسیم په قضایـي ډول شـوی دی اوکـه پـه رضایي . (٢)

٨٦ ـ ماده :
دهویلۍ د آبْرَو اونوروپه دعووکې باید مدعي وتاکي چې آبْرَو دباران دی اوکه د مستعملواوبو او نورو آبْرَو دی . (٣)

٨٧ ـ ماده :
دغیر منقولو مالونو په دعوی کې باید څلورګوني حدودذکرشي اوددرې حدونو په ذکر هم کفایت کیدای شي . (٤)

٨٨ ـ ماده :
داقرار په دعوی کې دمقرد رضا اورغبت ذکر ددعوی د صحت شرط دی . (٥)

مادۀ ٨٤:
در دعوی جامه مانند پیراهن و غیره علاوه برذکر نوع ، صفت ، جنس، قیمت ، آن باید توضیح شود که جامه مردانه است یا زنانه خورد است یاکلان . (١)

مادۀ ٨٥:
در دعوی تقسیم باید مدعی قسمت تـراضی وقسمت قضائـی را یکی از دیگری جـدا کند وتـوضیح بدهد که تقسیم بطورقضائی شده یا رضائی (٢)

مادۀ ٨٦:
در دعوی آبرو ، حویلی وغیره باید مدعی تعیین نماید که آبرو باران است یا آبرو آب مستعمله وغیره . (٣)

مادۀ ٨٧:
در دعوی اموال غـیر مـنقوله باید حدود اربعه ذکر شود وبذکر سه حد نیز کفایت شده میتواند . (٤)

مادۀ ٨٨:
در دعوی اقرار ذکر رضاء ورغبت مقر شرط صحت دعوی است . (٥)

(١) : الفتاوي الهندية جـ (٤) صـ (٧) .
(٢) :. الفتاوى الكاملية صـ (١١٧) .
(٣) : شرح الْمَادَّةُ (١٦٢٠) دررالحكام جـ (٤) صـ (١٩٠) . تكمله رد جـ (١) صـ (٣٣٣) .
(٤) : الْمَادَّةُ (١٦٢٣) مجلة الاحكام . الهندية جـ (٤) ص (٨) .
(٥): الْمَادَّةُ (١٥٧٥) مجلة الاحكام .

۸۹ ـ ماده :

د ځمکي او نورو په دعوی کې دملکیت د قضا د صحت دپاره بایدمدعی به وغوښتلی شي او مدعي دي بیان کړي چې مدعی به غیر حق د مدعي علیه په لاس کې ده . (۱)

۹۰ ـ ماده :

دغیر منقول شیانو په دعوی کې باید مدعي بیان کړي چې مدعی به دمدعي علیه پهلاس او تصرف کې دی او پرهغه باندي د شاهدانو (دذوالیدي شاهدانو) تیرول ضروردي ، دا تفصیل په ملکیت باندي دقضا د صحت د پاره دی نه ددعوی د صحت دپاره . (۲)

۹۱ ـ ماده :

حادثه (نوی) لاس او تصرف اعتبار نلري ، ځکه کله کله کیږي چې په یوه مدعی به کې یوشخص له اوږدې زمانې لاس او تصرف ولري مګر مقابل جانب په زور یا په چل سره په مدعی به کې تصرف کوي او خپل ځان مدعي علیه ګرځوي نو باید چې قاضي په لومړۍ مرحله کې مدعي له مدعي علیه څخه و پیژني اوخارجي له حقیقي ذوالید څخه جلا کړي . (۳)

مادۀ ۸۹:

در دعوی زمین وغیره برای صحت قضاء ملکیت باید مدعی به مطالبه شود ومدعی بیان کند که مدعی به در دست مدعی علیه بغیر حق میباشد (۱)

مادۀ ۹۰:

در دعوی اشیآی غیر منقول بایدمدعی بیان کند که مدعی به در دست وتصرف مدعی علیه است واقامه شهود بر آن (شهود ذوالیدي) ضروری است این تفصیل برای صحت قضاء برملکیت است ، نه برای صحت دعوی . (۲)

مادۀ ۹۱:

دست وتصرف حادثه (تازه) اعتبار ندارد زیرا گاهی میشود که در یک مدعی به شخصی از زمان مدید دست وتصرف داشته باشد اما جانب مقابل بطور غلبه ویا خدعه مدعی به را متصرف میشود وخود را مدعی علیه قرار میدهد پس باید قاضی در مرحله اول مدعی را از مدعی علیه بشناسد و خارج را از ذوالید حقیقی تفریق وتفکیک کند (۳)

(۱) : شرح الْمَادَّةُ (۱٦۲۳) دررالحکام جـ (٤) صـ (۱۹٦) . تکملة ردالمحتار (۱) صـ (۳۱۹) .

(۲) : وتکملة ردالمحتار جـ (۱) صـ (۳۲۹) . الفتاوي الکاملیة صـ (۱۱٤) .

(۳) :شرح الْمَادَّةُ (۱٦۷۹) دررالحکام جـ (٤) صـ (۳۳۲) الفتاوي الکاملیة صـ (۱۱٤) . شرح الاتاسي جـ (٥) صـ (۱۹۷) .

٩٢ ـ ماده :

که د«٩١» مادې په موضوع کې د مدعي او مدعي علیه په منځ کې یو اختلاف موجود شي قاضي کولای شي چې هغه لکه نور حقوقي موضوعات حل او فصل کړي . (١)

٩٣ ـ ماده :

که مدعي او مدعي علیه په اصل ذو الیدي کې جګړه ولري او هریو ځان ذو الید بولي په داسي حال کې چې دواړي خواوي شاهدان تیر کړي نو د دواړو خواؤ دپاره په ذوالیدي کې مناصفه حکم صادریږي ، او که هیڅ یو شاهدان ونه لري نو شرعا ددوی په حلف اونکول حکم صادریږي . (٢)

٩٤ ـ ماده :

دمنقوله شیانو په دعووکې که مدعي وغواړي چې مدعی به د مدعي علیه له لاس او تصرفه په مقنعه دلایلو خارج شي ، نو قاضي دلزوم له مخي کولای شي دغه شکایت قبول کړي اومدعی به دمدعي علیه له لاسه وباسي ترڅو چې دعوی پای ته رسیږي یوه امین او معتمد شخص ته دې وسپاري . (٣)

مادۀ ٩٢:

اگر در موضوع ماده (٩١) بین مدعی و مدعی علیه اختلافی موجود گردد قاضی میتواند آنرا مانند دیگر موضوعات حقوقی حل وفصل نماید . (١)

مادۀ ٩٣:

اگر مدعی ومدعی علیه در اصل ذوالیدی منازعه داشته وهرکدام خود را ذوالید بدانند در حالیکه طرفین اقامه شهود نمایند برای هردو طرف در ذوالیدی مناصفه حکم صادر میشود واگر هیچ یک شهود نداشته باشد شرعًا بحلف ونکول شان حکم صادر میگردد . (٢)

مادۀ ٩٤:

در دعاوی اشیآء منقوله اگر مدعی بخواهد که مدعی به رااز دست وتصرف مدعی علیه با دلائل مقنعه خارج شود قاضی عنداللزوم میتواند شکایت مذکور را قبول کند مدعی به رااز دست مدعی علیه کشیده تا ختم دعوی بدست شخص امین ومعتمد بسپارد . (٣)

(١) : شرح الْمَادَّةُ (١٦٧٩) دررالحکام جـ (٤)صـ (٣٣٢) .

(٢) : الْمَادَّةُ (١٧٥٥) مجلة الاحکام . الهندية ج (٤) ص (٩٣) .

(٣) : الفتاوى الكاملية صـ (١١٥) .شرح المادة (١٨١٦) الاتاسي جـ (٦) صـ (٩٤) .الاتاسي جـ (٥) صـ (٣١) .

تبصره :
دميوه لرونکو ونو او دنکاح په دعوی کې له پورتـــني قرار سره سم اجرا آت کيږي . (١)

٩٥ـ ماده :
دهغې ميړونې ښځې دنکاح په دعوی کې چې د ميړه په کورکي وي ترڅوچې مقابل جانب يي شاهدان تير نکړي دميړه له لاسه نه ايستله کيږي . (٢)

٩٦ ـ ماده :
که دغير منقوله شيانوپه دعووکې د ذو اليدي شاهدان موجودنه وي نو د انکار په صورت کـې قاضي کولای شي چې د مدعـــي عليه د لاس او تـــصرف په موضوع کې د مدعي له غوښتني څخه وروســـته مدعـــي عليه ته قسم ورکړي او په خـــپله ذوالـــيدي باندي دمدعي عليه د تصديق په صورت کې سوګند په اصله مدعی به کې مدعي عليه ته متوجه کيږي . (٣)

تبصره:
در دعوی اشـجار مـثمر ودعوی نکاح نيز طبق فوق اجرا آت ميشود . (١)

مادۀ ٩٥:
در دعوی نـکاح زن شـوهـر دار که درخانه شـوهرش باشد تا جانب مقابل اقامه شـــهود نکـــند از دســـت شوهرش کشيده نميشود . (٢)

مادۀ ٩٦:
در دعاوی اشيآء غير منقوله اگر شهود ذوالیدی موجود نباشددر صورت انکار قاضی ميتوانددرموضوع دست وتصرف مدعـــی عليه بعـــد از مـــطالبه مدعی ، مدعی عليه را حلف بدهد ، ودرصورت تصديق مدعی عليه بر ذوالـــيدی خود حـــلف در اصل مدعی به بمدعی عليه متوجه ميشود . (٣)

(١) : الفتاوى الكاملية صـ (١١٥) . شرح المادة (١٨١٦) الاتاسی جـ (٦) صـ (٩٣) .
(٢) : الهندية جـ (٣) صـ (٣٧٧) . شرح المادة (١٨١٦) الاتاسی جـ (٦) صـ (٩٣) .
(٣) : شرح الْمَادَّةُ (١٧٥٤) دررالحكام جـ (٤) صـ (٥١٣) .

۹۷ـ ماده :

دتعرض ددفع په دعووکې مدعي دخپل لاس او تصرف شاهدان راولي د مدعي علیه دتعرض دفع غواړي ، قاضي دي وروسته له هغه چې مدعي خپله ذو الیدي ثابته کړي ، مدعي علیه ته دي ووایي چې که دخپل ملکیت شرعي دلیل او برهان لري حاضر دي یې کړي او که نه د مدعی به په موضوع کې دي په مدعي متعرض نه شې . (۱) .

۹۸ ـ ماده :

په هغوعقودوکې چې زیات شرائط لري لکه سلم او کفاله او دهغو په شان یاتول شرائط ئې ذکرکیږي او که ځینې ئې ذکر شي نو مدعي دې د هغو په پای کې ووایي چې دا عقد صحیح او شرعي پای ته رسېدلی دی تول شرعي شرائط لري او یا هیڅ شرعي موانع په هغو کې نشته کفایت کوي . (۲)

تبصره : د نکاح دعقد په دعووکې که مدعي ځینې شرایط بیان کړي او په پای کې یې ووایي چې دنکاح عقد د ناکح او منکوحې په منځ کې صحیح اوشرعي شوی دی ، تول شرعي شرایط لري او په دې عقد کې هیڅ شرعي موانع وجود نلري کفایت کوي . (۳)

مادۀ ۹۷:

در دعاوی دفع تعرض ، مدعی شهود دست وتصرف خودرا آورده دفع تعرض مدعی علیه را مطالبه مینماید ، قاضی بعدازآنکه مدعی ذوالیدی خودرا ثابت کند بمدعی علیه بگوید که اگر حجت وبرهان شرعی ملکیت خود را داشته باشدحاضرکندوالادرموضوع مدعی به متعرض مدعی نشود . (۱)

مادۀ ۹۸:

در عقودی که شرائط زیاد دارد مانند سلم ، کفاله وامثال آن یا تمامًا شرائط آن ذکر میشود ویا اگر بعضی ذکر شود مدعی درآخر آن بگوید که عقد مذکور صحیح وشرعی انجام یافته تمامًا شرائط شرعیه را دارا بوده وهیچ مانع شرعی درآن وجودی ندارد کفایت میکند . (۲)

تبصره : در دعاوی عقد نکاح اگر مدعی بعضی شرائط را بیان کند ودرآخرآن بگوید که عقد نکاح صحیح وشرعی در بین ناکح ومنکوحه منعقد شده تمامًا شرائط شرعیه را دارابوده وهیچ مانع شرعی درعقد مذکور وجود ندارد کفایت میکند . (۳)

(۱) : الفتاوي الکاملیه صـ (۱۱۳) .

(۲) : الفتاوي جواهرالروایات مطلب في العقد الذي کثرت شروطه صـ (۳۵) .

(۳) : جواهرالرویات صـ (۲۹ ـ ۳۶) .

۹۹ ـ ماده :

د قتل په دعوی کې باید مدعي ووایي چې قاتل مکلف دی او تصریح دې کړي چې په قتل کې شبه نشته او مقتول په خپله په خپل قتل امر نه دی ورکړی ، او عمد قتل دی ، قاتل د مقتول ورثې نه دی عفوه کړی او ددې په شان . (۱)

۱۰۰ ـ ماده :

نکاح دوه حکمه لري ، د انعقاد حکم او د اظهار حکم دمنازعې په وخت کې ، نو ځکه هغه شرایط چې د انعقاد په وخت کې لکه د شاهد صفات اونور موجوده شرایط په نظر کې نیول کیږي ، د جګړې په وخت کې د قاضي په حضور کې لکه د نورو حقوقي جګړو غوندي په نظرکې نیول کیږي . (۲)

۱۰۱ ـ ماده :

که مدعي دمدعی به تعریف او توصیف وکړي مګر څه وخت چې مدعی به دقضا مجلس ته حاضر شي د مدعی به ځینې اوصاف دمدعي له بیان سره مخالفت ولري ، په دې صورت چې مدعي خپله لومړی دعوی پربږدي او په هغه چې حاضر دی ادعا وکړي =

مادۀ ۹۹:

در دعوی قتل باید مدعی بگوید که قاتل مکلف است و تصریح کند ، که شبهه در قتل نیست و مقتول خودش به قتل خود امر نداده ، و قتل عمد میباشد و قاتل را ورثه عفوه نکرده است ومانند آن . (۱)

مادۀ ۱۰۰:

نکاح دارای دو حکم است : حکم انعقاد ، وحکم اظهار وقت منازعه ، لذا شرائطی که در وقت انعقاد از قبیل صفات شاهد و دیگر شرائط موجوده در نظر گرفته میشود هنگام منازعه بحضور قاضی مانند دیگر منازعات حقوقی در نظر گرفته میشود . (۲)

مادۀ ۱۰۱ :

اگر مدعی تعریف و توصیف مدعی به را نماید ولی وقتیکه مدعی به حاضر مجلس قضاء گردد بعضی اوصاف مدعی به با بیان مدعی مخالفت داشته باشد ، در صورتیکه مدعی دعوی اول خود را ترک گوید وبا آنچه حاضراست ادعا نماید ، نظر باینکه =

(۱) : جواهرالرویات صـ (۶۳) .درالمختار علي هامش ردالمحتار جـ (۵) صـ (۳۷۸ ـ ۳۸۸) . الهندية .جـ (٦) صـ (۱۹۲) .

(۲) : ردالمحتار جـ (۲) صـ (۲۹٦) الفتاوي جواهرالروايات صـ (۳٦) جوهرالنيرة جـ (۲) صـ (۳) بحرالرائق جـ (۳) صـ (۸۹) .

= نظر ودې ته چې يوه نوي دعوى ده بايد واوريدله شي اوكه هغه مخكنۍ پرې نږ دي د اوريدو ورنه ده . (١)

١٠٢ ـ ماده :

دځلورو حدودو په ذكركې بايد دحدودو مالكانو د پلار اونيكه نومونه تعريف شي (٢)

تبصره :

مشهور كسان له پورتنۍ مادې څخه مستثنى دي . (٣)

١٠٣ ـ ماده :

كه مدعي عليه يا دحد مالك ووايي چې فلانى حد دمدعي له ويلو سره سم نه دى ، نظر ودې ته چې دا ادعا د نفى متضمنه ده قبليدلاى نشي . (٤)

١٠٤ ـ ماده :

كه شاهد اقرار وكړي چې په فلاني حد كې غلط شوى دى غلط حد ثابتيږي (٥)

١٠٥ ـ ماده :

د ميراث په دعوى كې د وراثت حصر او دهغه د جر سبب ضروري دى . (٦)

= یک دعوی جدید است باید سمع گردد ، واگر آنرا ترک نکند قابل سمع نمی باشد . (١)

مادۀ ١٠٢ :

درذکر حدود اربعه باید پدر وپدرکلان مالکان حدود تعریف شوند . (٢)

تبصره :

اشخاص مشهور از ماده فوق مستثنی میباشد . (٣)

مادۀ ١٠٣ :

اگر مدعی علیه یا مالک حد بگوید که فلان حد طبق گفته مدعی نیست نظر باینکه ادعا مذکور متضمن نفی است قبول شده نمیتواند . (٤)

مادۀ ١٠٤ :

اگر شاهد اقرار کند که درفلان حد غلط شده ، حد غلط ثابت میشود . (٥)

مادۀ ١٠٥ :

دردعوی میراث حصر وراثت وجرارث وسبب آن ضروری است . (٦)

(١) : شرح المادة (١٦٢١) دررالحكام جـ (٤) صـ (١٩٤) .

(٢) : جواهرالروايات صـ (٦٢) .

(٣) :الْمَادَّةُ (١٦٢٣) مجلة الاحكام .ودررالحكام جـ (٤) صـ (١٧٤). الاتاسي جـ (٥) صـ (٣١) الهندية جـ (٤) صـ (٨) . (٤) : شرح المادة (١٦٢٣) دررالحكام جـ (٤) صـ (١٩٨) .

(٥) : شرح المادة (١٦٢٣) دررالحكام جـ (٤) صـ (١٩٨) .الاتاسي جـ (٥) صـ (٣٤) .

(٦) : جواهرالروايات صـ (٦١). الكاملية صـ (١٣٠) .

١٠٦ ـ ماده :
د مـطلق ملکیت په دعوی کې (بـې د سبب له ذکره) د سـبب بیان او نه بیان تفاوت نه لري ، دا دعوی بې د ملکیت د سبب له ذکره د اورېدو وړده . (١)

١٠٧ ـ ماده :
د مبیعې د ثمنو په دعوی کې دمبیعـې د څلورو حدودو ذکر شرط نه دی . (٢)

١٠٨ ـ ماده :
په کومه رسمي مرجع کې محض په ادعا یا عرض د مځکي پلورنه او پیرودنه ټالیدای نشي . (٣) .

١٠٩ ـ ماده :
همدا ډول پخوا دیو تن عادل شاهد یا دوو تنو مستورالحالو له شهادت څخه په محکمه کې دقاضي په حضورکې ، محض په عرض او د نکاح په ادعا کوم عقدچې له بل سره کیږي نه ټالیږي . (٤)

*****
***
*

مادۀ ١٠٦:
دردعوی ملکیت مطلق (بدون ذکرسبب) بیان وعدم بیان سبب تفاوتی ندارد ، دعوی مذکور بدون ذکر سبب ملکیت قابل سمع است . (١)

مادۀ ١٠٧:
در دعوی ثمن مـبیعه ذکـر حدود اربعه مبیعه شرط نیست . (٢)

مادۀ ١٠٨:
به محض ادعا ویا عرض بکدام مرجع رسمـی بیع وشـرآء زمین معطل شده نمیتواند . (٣)

مادۀ ١٠٩:
وهکذا قبل از شـهادت یکـنفر شـاهد عادل ویا دونفر مستور الحال بمحکمه بحضور قاضی بمحض عرض وادعای نکاح عقدی که بادیگری میشود معطل نمیگردد . (٤)

*****
***
*

(١) : (الْمَادَّةُ ١٦٢٧) مجلة الاحكام . ودرراالحكام جـ (٤) صـ (٢٠٣) .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٦٢٥) مجلة الاحكام . دررالحكام جـ (٤) صـ (٢٠٠) والاتاسي جـ (٥) صـ (٣٩) . الهندية جـ(٤)صـ(٥).
(٣) : شرح المادة (١٦٣٥) دررالحكام ج (٤) ص (٢٣٣) بحرالرائق جـ (٧) صـ (٢٠٢) .
(٤): شرح المادة (١٦٣٥) دررالحكام ج (٤) ص (٢٣٣) . بحرالرائق جـ (٧) صـ (٢٠٢) .

د محکوم علیه قیام له ځان څخه دحکم د رفع دپاره	قیام محکوم علیه برای رفع حکم از خود
١١٠ ـ ماده : که مدعي علیه د ځان اوقاضي په منځ کې او یا دځان او دده د زوی په منځ کې یا د قاضي د پلار یا مور په منځ کې ددنیوي دښمنی دعوی وکړي ، وروسته له ثبوته دا حکم واجب الفسخ دی . (١) .	**مادۀ ١١٠ :** اگر محکوم علیه عداوت دنیوی را بین خود وقاضی ویا بین خود وپسر ویا پدر ویا مادر قاضی نماید بعد ازثبوت حکم مذکور واجب الفسخ است . (١)
١١١ ـ ماده : که محکوم علیه اعتراض وکړي چې قاضي د شاهدانو احوال نه دي کشف کړي ، او دشاهدانو په نه اهلیت باندي شرعي اثبات ولري ، فیصله د ماتیدو وړده . (٢) .	**مادۀ ١١١ :** اگر محکوم علیه اعتراض کند که قاضی احوال شهود را کشف نکرده وبر عدم اهلیت شهود اثبات شرعی داشته باشد فیصله قابل نقض است . (٢)
١١٢ ـ ماده : که محکوم علیه اعتراض وکړي چې اساسا زمونږ قاضیان په حنفي مذهب مقید دي اوهغه قضاوت چې قاضي دده په خصوص کې کړی دی مطابق د بل مذهب دی ، نو اعتراض یي وروسته له ثبوته د اوریدو وړدی . (٣)	**مادۀ ١١٢ :** اگر محکوم علیه اعتراض کند که اساسًا قضات ما مقید بمذهب حنفی میباشد قضاوتی را که قاضی در مورد او نموده مطابق مذهب دیگر است اعتراض او بعد از ثبوت قابل سمع است . (٣)

(١): معین الحکام صـ (٣٨) . شرح الْمَادَّةُ (١٧٩٤) دررالحکام جـ (٤) صـ (٥٨٤) .
(٢) : شرح الْمَادَّةُ (١٧٢٤) دررالحکام ،جـ (٤) صـ (٤٥٣) . والفتاوی الهندیة (٣) ص (٥٣٢) .
(٣) : شرح المادة (١٨٣٨) الاتاسی جـ (٦) صـ (١٦٠) .

۱۱۳ـ ماده :
په هغه میعادکې چې ددعوواوریدلو دپاره ټاکلی شوی دی ، که قاضي له هغه میعاد نه په لیږه موده کې د دعوی د نه اوریدو حکم وکړي نو دا حکم ماتیږي . (۱)

۱۱۴ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چې قاضي د حکومت له تقییداتو تیرئ کړی دی په هغه شي کې چې دئ قاضي نه دی فیصله یې کړې ده، د اثبات په صورت کې دا حکم د ماتېدو وړدی . (۲)

۱۱۵ـ ماده :
که محکوم علیه دیوې وثیقې په اثبات دنفی متواتر اعتراض وکړي داوریدو وړدی . (۳)

۱۱۶ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چې فیصله بې دشاهدانوله شرعي او اصولي تزکیې پای ته رسیدلې یا په شرعي ډول له تعلیماتنامې سره سم تزکیه نه ده اجراء شوي ، دحقیقت په صورت کې دا فیصله ماتیدلای شي . (٤)

مادۀ ۱۱۳ :
در میعادیکه برای سمع دعاوی تعیین شده اگر قاضی در کمتر ازآن میعاد حکم بعدم سمع دعوی کند حکم مذکور نقض میشود . (۱)

مادۀ ۱۱۴ :
اگرمحکوم علیه اعتراض کند که قاضی ازتقیدات حکومت تجاوز نموده در چیزیکه قاضی نمیباشد فیصله کرده است حکم مذکور قابل نقض است (۲)

مادۀ ۱۱۵ :
اگر محکوم علیه باثبات یک وثیقه از نفی متواتر اعتراض کند قابل سمع است . (۳)

مادۀ ۱۱۶ :
اگر محکوم علیه اعتراض نماید که فیصله بدون تزکیه شرعی واصولی شهود انجام یافته ، یا بطور شرعی وطبق تعلیماتنامه تزکیه اجرآء نشده در صورت حقیقت فیصله متذکره نقض شده میتواند . (٤)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸۰۱) مجلة الاحکام .
(۲) : الْمَادَّةُ (۱۸۰۱) مجلة الاحکام .
(۳) : الْمَادَّةُ (۱٦۹۹) مجلة الاحکام . وشرح الاتاسي ج (٥) صـ (۲٤۹) .
(۴) : شرح الْمَادَّةُ (۱۷۱٥) دررالحکام ج (٤) صـ (٤٤۱) وتنقیح الحامدیة ج (۱) صـ (۳۳٤) الْمَادَّةُ (۱۸۰۱) مجلةالاحکام

۱۱۷ ـ ماده :
که محکوم علیه اعـــتراض وکړي چې په ابـتدائیه یا مرافعـه فـیصله کـې شرعي شـرطونه په دعوی یا شـهادت یا د مدعي علیه په ځـواب کـې نه دي مراعات شـوي ، د حقیقت د اثـبات په صورت کې د اوریدو وړدی . (۱)

۱۱۸ ـ ماده :
خـــرنګه چې په علانـیه تزکیه کې پرته له (اشهد) کلمې د شـهادت نور ټول شـــرایط په نظرکې نـیول کیږي ، که محکوم علیه اعـــتراض وکړي چـې د شهادت شرطونه په علانـیه تزکـیه کې نه دي مراعات شوي ، په دې صورت کې چې حقیقت ولري فیصله د ماتیدو وړده . (۲)

۱۱۹ ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چـې فیصله دوکالت او وصـایت پـه اساس بنا شوي ده، مګـر وکالت او وصـایت په دې دلائلو دحکم مدار نه دی ، نو دا فیصله ماتیدای شي . (۳)

مادۀ ۱۱۷:
اگر محکوم علیه اعتراض نماید که در فـیصله ابـتدائیه یا مرافعه شرائط شـرعی در دعوی یا شـهادت یا جـواب مدعی علیه مراعات نـشده درصورت اثبات حقیقت قابل سمع است . (۱)

مادۀ ۱۱۸:
چون در تزکیه علانیه باستثنآء کلمه (اشهد) تمامًا شرائط شهادت در نظر گرفته میشود اگر محکوم علیه اعتراض کند که شرائط شهادت درتزکیه علانیه مراعات نشده درصورتیکه حقیقت داشته باشد فیصله قابل نقض است . (۲)

مادۀ ۱۱۹:
اگر محکوم علیه اعتراض کند که فیصله براساس وکالت ، ووصایت بنا شده ، ولی وکالت ووصایت باین دلائل مدار حکم نیست فیصله متذکره نقض شده میتواند . (۳)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸۳۸) مجلة الاحکام .
(۲) : الْمَادَّةُ (۱۷۲۲) مجلة الاحکام . و دررالحکام ، جـ (٤) صـ (٤٥١) .
(۳) : شرح المادة (۱٦۳۱) دررالحکام جـ (٤) صـ (۲۱٤) .

١٢٠ ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چې نظر شرعي دلایلو یا متواتري نفی ته ځما اقرار په فیصله یا وثیقه کې حقیقت نه لري د اوریدو وړدی . (١)

١٢١ ـ ماده :
د دواړو خواؤ په اصلاح کې که یو اعتراض وکړي چې دا اصلاح مشروع نه ده یا وثیقه تر اشتباه لاندي راولي او له هغه کبله خپل ځان له اصلاح څخه بې خبره وښیي دحقیقت د اثبات په صورت کې د اوریدو وړدی . (٢)

١٢٢ ـ ماده :
که محکوم علیه له همغه قاضي یا له بل قاضي څخه وثیقه په لاس ولري چې دده د ادعا اثبات وکړي اوله هغې څخه تقابل اوتناقض څرګند شي دا اعتراض د اوریدو وړدی . (٣)

مادهٔ ١٢٠:
اگر محکوم علیه اعتراض کند که نظر بدلائل شرعی یا نفی متواتر اقرار من در فیصله یا وثیقه حقیقت ندارد قابل سمع است . (١)

مادهٔ ١٢١:
در اصلاح جانبین اگر یک جانب اعتراض کند که اصلاح مذکور مشروع نیست ویا وثیقه را محل اشتباه قرار بدهد و ازآنرو خود را از اصلاح بی خبر نشان دهد در صورت اثبات حقیقت قابل سمع است . (٢)

مادهٔ ١٢٢:
اگر محکوم علیه از همان قاضی یا قاضی دیگری وثیقه بدست داشته باشد که اثبات ادعای اورا کند وازآن تقابل وتناقض مشاهده گردد اعتراض مذکور قابل سمع است . (٣)

(١) : الْمَادَّةُ (١٦٩٩) مجلة الاحكام .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٧٣٨) مجلة الاحكام .وشرح الاتاسي جـ (٥) صـ (٣٨٧) . الفتاوي الكاملية صـ (١٥٧) .
(٣) : الْمَادَّةُ (١٨٤٠) مجلة الاحكام .

۱۲۳ـ ماده :
هغه اعتراض یا دفعه چې د متواتري نفی په صورت کې د اثبات متضمن وي ، قبلېدلای شي . (۱)

۱۲۴ـ ماده :
که معترض وثیقه د اشتباه مورد وګرځوي، تحریف او تزویر پکښې ثابت کړي ، یا دهغې ثبت تر اشتباه لاندي وي او یا یي حدود قطعا تطبیق نشي ، داوریدو وړدی . (۲)

۱۲۵ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چې نه پېخپله مقر اونه ورثه د وثیقې او فیصلې مقردي دتذکرې (دفترياداشت) دلیدني او نورو مقنعه دلائلو له مخي که همداسي وي ، د اوریدو وړدی . (۳)

مادۀ ۱۲۳ :
اعتراض یا دفعیکه بصورت نفی متواتر متضمن اثبات باشد قبول شده میتواند . (۱)

مادۀ ۱۲۴ :
اگر معترض وثیقه را مورد اشتباه قرار دهد و تحریف وتزویر را درآن ثابت نماید ویا ثبت آن مورد اشتباه باشد ویا حدود آن قطعًا تطبیق نشود قابل سمع است . (۲)

مادۀ ۱۲۵ :
اگر محکوم علیه اعتراض کند که نه خودش مقر ، ونه ورثه مقر وثیقه وفیصله میباشد در صورت مشاهده تذکره (دفتر یاداشت) وغیره دلائل مقنعه اگر چنان باشد قابل سمع است . (۳)

(۱) : شرح الْمَادَّةُ (١٦٩٩) دررالحکام جـ (٤) صـ (٣٩٣) .

(۲) : الْبَابُ الرَّابِعُ فِي بَيَانِ الْإِقْرَارِ. دررالحکام جـ (٤) صـ (١٥٨).

(۳) : الْمَادَّةُ (١٨٠٠ ـ ١٨٠١) مجلة الاحکام . وشرح المادة (١٧٣٨) للاتاسي جـ (٥) صـ (٣٨٧) .الفتاوي الکاملية (١٥٠)

۱۲۶ـ ماده :
که محکوم علیه په شرعي دلایلو سره اعتراض وکړي چې قاضي د شرعي مخاصمې د اهلیت مراعات نه دی کړی ، نو دا اعتراض اوریدل کیږي . (۱)

۱۲۷ـ ماده :
که معترض د فیصلې یا وثیقې د دروغولو اوتردیدولو په غرض د رسمي منابعو په غیرقابل انکار اسنادو استناد وکړی دا اعتراض داوریدو وړدی (۲)

۱۲۸ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي د ذوالیدي یا حقیت او ملکیت شاهدانو د حدودو دذکر په موضوع کې دملکیت نسبت دحدودو خاوندانوته نه دی کړی، که په فیصله کې همدا ډول وي ، نودا اعتراض د اوریدو وړدی ، فیصله ماتیدلای شي . (۳)

۱۲۹ـ ماده :
که مدعي په خپله دعوی کې دحدودو په موقع کې دملکیت نسبت د حدودو خاوندانوته نه وي کړی اومحکوم علیه پرهغه اعتراض ولري داوریدو وړدی (۴)

مادۀ ۱۲۶:
اگر محکوم علیه با دلائل شرعی اعتراض کند که قاضی اهلیت مخاصمه شرعی را مراعات ننموده اعتراض مذکور شنیده میشود . (۱)

مادۀ ۱۲۷:
اگر معترض بغرض تکذیب وتردید فیصله و یا وثیقه باسناد منابع رسمی وغیر قابل انکار استناد کند اعتراض قابل سمع است . (۲)

مادۀ ۱۲۸:
اگر محکوم علیه اعتراض کند که شهود ذوالیدی ویا حقیت وملکیت در موضوع ذکر حدود نسبت ملکیت را به صاحبان حدودنکرده است اگر در فیصله چنان باشد اعتراض مذکور قابل سمع است فیصله نقض شده میتواند . (۳)

مادۀ ۱۲۹:
اگر مدعی دردعوی خود در موقع حدود نسبت ملکیت را به صاحبان حدود نکرده باشد و محکوم علیه اعتراض کند دعوی اش قابل سمع است . (۴)

(۱) : الْمَادَّةُ (١٦١٦) مجلة الاحكام .الفتاوى الهندية ج (۴) صـ (۲).
(۲) : بمقتضي المواد (١٧٣٦ ـ ١٧٣٧ ـ ١٧٣٨) . مجلة الاحكام .
(۳) :جواهرالروايات صـ (٦٥) والْمَادَّةُ (١٦٢٣) مجلة الاحكام . الهندية ج (٤) صـ (٨) .
(۴) : الْمَادَّةُ (١٦٢٣) مجلة الاحكام. جواهرالروايات صـ (٦٥) .

۱۳۰ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چې قاضي وروسته د مدعي له دعوی ، یا وروسته د شاهدانو له شهادته له ما څخه پوښتنه نه ده کړې ، چې ترڅو مي مدافعه یا جرحه کړې وای ، داوریدو وړده . (۱)

۱۳۱ـ ماده :
که مدعي کوم سند په ابتدائیه محکمه کې نشي ښکاره کولای اوزیات تشریحات نشي ورکولای که دغه سند په مرافعه کې حاضرکړي په دې صورت کې چې ددعوی دماهیت له اصل څخه چې په ابتدائیه کې یې دائره کړې ده ونه وزي څرنګه چې په دلایلو کې زیات والی دی منلی کیږي . (۲)

۱۳۲ـ ماده :
که په ابتدائیه کې دثمنو له قبض څخه ذکر نه وي شوی ، له هغه کبله د بیع په فسخ حکم صادرشوی وي او په مرافعه کې ئې ذکر کړي نو هغه دعوی دي نوي او له فیصلې څخه وتلي ونه ګڼي . (۳)

مادۀ ۱۳۰:
اگر محکوم علیه اعتراض کند که قاضی بعد از دعوی مدعی ویا بعد از شهادت شهود از من نپرسیده است تا مدافعه ویا جرح مینمودم ،قابل سمع است . (۱)

مادۀ ۱۳۱:
اگر مدعی سندی را در محکمه ابتدائیه ظاهر نتوانسته و تشریحات مزید داده نتوانسته باشد اگر سندی را در مرافعه حاضر کند در صورتیکه از اصل ماهیت دعوی که در ابتدائیه دائر کرده خارج نشود چون زیادت در دلائل است پذیرفته میشود . (۲)

مادۀ ۱۳۲:
اگر در ابتدائیه از قبض ثمن ذکر نشده باشد وازآن جهت حکم بفسخ بیع شده باشد ودر مرافعه ذکر کند آنرا دعوی جدید وخارج فیصله نباید شناخت . (۳)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸۱٦ ـ ۱۷۱٦) مجلة الاحکام .
(۲): الْمَادَّةُ (۱۸۰۰ ـ ۱۸۰۱) مجلة الاحکام .
(۳) جواهرالروایات صـ (۳۹) . الْمَادَّةُ (۱۸۰۱) مجلة الاحکام .

١٣٣ـ ماده :

که مدعي دپور دعوی وکړي اوپه هغه باره کې د قضا حکم وشي اومدعي علیه په مرافعه کې د پور رسیدلو یا دمدعي د ابراء ادعا وکړي ، قبلیدلای شي، مګر که یي ویلي وي چې له ده څخه یي هیڅ پور نه دی اخیستی اویا یي هیڅ معامله نه ده ورسره کړې ، او له هغه وروسته ووایي چې رسیدلی دی یا یي ابراء کړې ده نه شي قبلیدای . (١)

١٣٤ـ ماده :

که مدعي علیه په ابتدائیه کې دزمانې له مرور څخه څه نه وي ویلي په مرافعه کې هغه اظهارکړي نظر دې ته چې اصل مدعی به تو پیر نه کوي ، څرنګه چې د مدعي علیه دا ادعا د دلیل او برهان زیاتوالی دی منل کیدای شي . (٢)

١٣٥ـ ماده :

که پیرودونکی په مرافعه کې دشفیع له خوا د شراء د طلب د ادعا اظهار وکړي هغه باید نوي دعوی ونه بولي . (٣)

مادۀ ١٣٣:

اگر مدعی دعوی دین نماید و درآن باره حکم قضاء شود ومدعی علیه در مرافعه از رسیدن دین یا ابرآء مدعی ادعا کند قبول شده میتواند ، ولی اگر گفته باشد از نزدش هیچ دین نگرفته ، ویا همرایش هیچ معامله نکرده است ، وپس ازآن از رسیدن ویا ابرآء بگوید قبول شده نمیتواند . (١)

مادۀ ١٣٤:

اگر مدعی علیه در ابتدائیه از مرور زمان نگفته باشد ودرمرافعه آنرا اظهار کند نظر باینکه اصل مدعی به تفاوت نمیکند چون این ادعای مدعی علیه زیادت دلیل وبرهان است قبول شده میتواند . (٢)

مادۀ ١٣٥:

اگر مشتری درمرافعه ادعای طلب شرآء را ازجانب شفیع اظهار کند آنرا دعوی جدید نباید شناخت . (٣)

(١) : الْمَادَّةُ (١٦٥٧) مجلة الاحكام .

(٢): المادة (١٨٤٠) . مجلة الاحكام .

(٣) : الفتاوى الهندية ، الفصل العشرون في الشفعة جـ (٦) صـ (٤٢٣) . تنقيح الحامدية جـ (٢) صـ (١٨٤) .

۱۳۶ـ ماده :
که محکوم علیه اعتراض وکړي چې قاضي نسبت د مدعي ادعا ته زه ملزم ګرځولی یم ، یا دمدعي دمورث د پور په ورکولو یې پرما حکم کړی دی ، مګر زه پخپله دده یا دده د مورث رسید ، یا ابراء خط په دې دعوی کې په لاس لرم ، د اورېدو وړدی . (۱)

۱۳۷ـ ماده :
هر هغه څه چې دقاضي دقضا دمنع یا دبطلان موجب وي یا دعوی چې شرعا داورېدو وړ نه وي یا اصولو دهغې د اورېدو جواز نه وي ورکړی اوقاضي دهغه په خلاف قضاوت وکړي او محکوم علیه په هغه باندي اعتراض وکړي داورېدو وړدی . (۲)

۱۳۸ـ ماده :
که چیري مرافعه محکمه دمستانف (مرافعه غوښتونکي) اعتراضات وارد وپیژني یا په فیصله کې نواقص وویني دابتدائیې حکم فسخ کوي سر له سره نوی دوران ورکوي اوکنه دابتدائیې حکم تائید وي . (۳)

مادۀ ۱۳۶ :
اگر محکوم علیه اعتراض کند که قاضی نسبت بادعای مدعی مرا ملزم قرار داده ویا به ادای دین مورث مدعی برمن حکم کرده ولی من رسید یا ابرآی خود او یا مورث او را در دعوی مذکور بدست دارم قابل سمع است . (۱)

مادۀ ۱۳۷ :
هر آنچه موجب منع یا بطلان قضاوت قاضی باشد ویا دعوی که شرعًا قابل سمع نباشد ویا اصول باستماع آن جواز نداده باشد وقاضی برخلاف آن قضاوت نماید ومحکوم علیه برآن اعتراض کند قابل سمع است . (۲)

مادۀ ۱۳۸ :
هرگاه محکمه مرافعه اعتراضات مستانف (مرافعه خواه) وارد بشناسد ، ویا در فیصله نواقصی مشاهده کند حکم ابتدائیه را فسخ نموده سر از نو دوران میدهد ، والا حکم ابتدائیه را تائید مینماید . (۳)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۸٤۰) مجلة الاحكام .
(۲) :المادة (۱٦۱٦) مجلة الاحكام وشرح الْمَادَّةُ (۱۸۳۸) دررالحكام جـ (٤) صـ (٦۸٦) الفتاوى الكاملية ص (۱۱۷) .
(۳) : الْمَادَّةُ (۱۸۳۸) مجلة الاحكام . وشرح الاتاسي جـ (٦) صـ (۱٦٥) ودررالحكام جـ (٤) صـ (٦۹۰) .

۱۳۹ ـ ماده :

په هغو حقوقو کې چې په ارث وړل کیږي یا هغه شیان چې په متروکه پوري اړه لري اوله وارث څخه اخیستل کیږي نوکه موروث وروسته دابتدائیې له فیصلې یا د مرافعې له فیصلې مړ کیږي ورثه کولای شي چې مرافعه او تمیز وغواړي اوخپل اعتراضونه خپلې مرجع ته وړاندې کړي . (۱)

۱۴۰ ـ ماده :

که محکوم علیه اعتراض کوي چې په ابتدائیه فیصله کې داستظهار یمین (سوګند) نه دی ورکړل شوی داورېدو وړدی

تبصره : په شپږو لاندې موادوکې قاضي بې له غوښتنې مدعي ته سوګند ورکوي دا سوګند دقضا له حقوقو څخه دی چې هغه د استظهار سوګند بولي .

الف : که دشفیع حق وروسته له شرعي اثبات دقاضي دقضاوت موجب وګرځي لازم دی چې قاضي شفیع ته قسم ور کړي چې شفعه ئي په خپل وخت غوښتي او دخپلې شفع حقوق ئي په هیڅ صورت له منځه نه دي وړي .

مادۀ ۱۳۹ :

درحقوقی که بارث برده میشود ، ویا چیزهائیکه به متروکه ارتباط داشته واز وارث گرفته می شود اگر مورث بعد از فیصله مرافعه یا فیصله ابتدائیه فوت میکند ورثه میتوانند که مرافعه و تمیز خواسته و اعتراضات خود را بمرجعش تقدیم دارند . (۱)

مادۀ ۱۴۰ :

اگر محکوم علیه اعتراض میکند در فیصله ابتدائیه یمین (قسم) استظهار داده نشده قابل سمع است .

تبصره : در شش مواد آتی قاضی بدون طلب مدعی را قسم میدهد واین قسم ازحقوق قضاء است که آنرا قسم استظهار نامند :

الف ـ اگر حق شفیع بعد از اثبات شرعی موجب قضاوت قاضی گردد لازم است که قاضی شفیع را سوګند بدهد : که شفع را بوقت آن خواسته وحقوق شفع خود را بهیچ صورت از بین نبرده است ؟

(۱) : شرح الْمَادَّةُ (۱۸۳۷) للاتاسي جـ (٦) صـ (۱۵۷ـ ۱۵۸) . الفوائد الزينية صـ (۱۷۷) .

ب : هغه ښځه چې د بلوغ خيار لري او له قاضي څخه دخپلي نکاح فسخ غواړي قاضي دهغې دنکاح په فسخ حکم نشي کولای مګر هلته چې هغې ته سوګند ورکړي ، چې په خپل بلوغ باندي له علم نه وروسته يي ژر تر ژره د خپلي نکاح فسخه غوښتې ده . ؟

ب- زینکه خیار بلوغ دارد واز قاضی فسخ نکاح خود را مطالبه میکند ، قاضی به فسخ نکاح او حکم کرده میتواند ، مگر آنگاه که او را قسم بدهد : که بعد از علم به بلوغ خود فوراً فسخ خود را خواسته است ؟ .

ج : که پيرودونکي دعيب په سبب مبيعه رده کړي قاضي دي هغه ته سوګند ورکړي چې آيا په دې عيب راضي شوی نه دی . ؟

ج اگر مشتری مبیعه را بسبب عیب رد کند قاضی باو قسم بدهد که : آیا به عیب مذکور راضی نشده است ؟ .

د : که يوشخص غايب وي او ښځه يي د خپل ميړه له ماله نفقه وغواړي ، قاضي دي قسم ورکړي چې آيا ميړه دښته نفقه نه ده پرې ايښې ، او يا يي دا دنکاح له قيد څخه نه ده خوشي کړې ، ؟

د- اگر شخصی غائب باشد زنش از مال شوهر نفقه بخواهد قاضی قسم بدهد : که آیا از شوهر برای وی نفقه نمانده ویا ویرا ازقید نکاح فارغ نساخته است ؟ .

هـ : د استحقاق په دعوی کې چې يو شی دبل چا په لاس کې وي او مستحق د استحقاق په ډول دعوی وکړي وروسته له ثبوته که قاضي حکم کوي ، لازم دی چې لومړی مدعي ته قسم ورکړي چې آيا مدعی به يي پر بلچا پلورلی نه دی ، او چاته يي بخښلی نه دی اوچاته يي د هديې او صدقې په ډول نه ده ورکړی . ؟

هـ- در دعوی استحقاق که چیزی بدست دیگری باشد و مستحق آنرا بطور استحقاق دعوی نماید بعد از ثبوت اگر قاضی حکم میکند لازم است که اول مدعی را قسم بدهد : که آیا مدعی به را بکسی نفروخته است و بکسی نه بخشیده است وبکسی طور هدیه وصدقه نداده است ؟ .

و ـ : قاضي پرمړي باندي د پور يا کوم بل حق مدعي ته پخوا له حکمه =

و - قاضی مدعی دین یا حقی را بر متوفی قبل از حکم قسم بدهد ، که آیا =

= قسم ورکوي چې آیا مدعی به بالذات یا بالواسطه د مړي له خوا ده ته نه دی رسیدلی . ؟

تبصره :

د استظهار سوګند (قسم) یوازي دمړي پرذمه باندي دپور په دعوی کې منحصر نه دی ،بلکي ټولو هغو حقوقو ته چې د مړي متروکې ته متوجه وي که عین وي یا دین شامل دی . (۱)

۱۴۱ـ ماده :

که مدعي له مدعي علیه سره خپله دعوی د ابتدائیې یا مرافعې قاضي ته وړاندي کړي اوخپل حقوق له مدعي علیه څخه وغواړي او وروسته له هغه بې له شرعي عذره ځان ګوښه کړي او حاضر نشي دمدعي علیه د تشویش او سرګردانۍ موجب شي ، نو دا محکمې کولای شي چې شرعا دجګړې پرپریکړه حکم وکړي . (۲)

۱۴۲ـ ماده :

قسم اوله قسم څخه نکول دقاضي اوقضایي مجلس په حضورکې اعتبار لري نه غیر له =

= مدعی به بالذات یا بالواسطه از جانب متوفی برایش نرسیده است ؟ .

تبصره:

یمین (قسم) استظهار تنها در دعوی دین برذمه متوفی منحصر نیست بلکی بـه تمام حـقوقی که بمتروکه متوفی متوجه میباشد شمولیت دارد عین باشد یادین . (۱)

مادۀ ۱۴۱:

اگر مدعی دعوی خود را با مدعی علیه بحضور قاضی ابتدائیه یا مرافعه تقدیم نماید ، وحقوق خو درا از مدعی علیه طلب نماید ، وپس ازآن بې عذر شرعی کناره جوئی نموده حاضر نشده وموجب تشویش وسر گردانی مدعی علیه گردد محاکم مذکور میتواند که شرعًا به قطع خصومت مذکور حکم نمایند . (۲)

مادۀ ۱۴۲:

قسم ونکول از قسم بحضور قاضی ومجلس قضائی اعتبار دارد نه درغیر =

(۱) : اَلْمَادَّةُ (۱۷٤٦) مجلة الاحکام . والاتاسی ج (۵) صـ (۴۱۲) . ودررالحکام ج (۴) صـ (۴۹۹) .

(۲): المادة (۱۸۰۱) مجلة الاحکام .

=هغواوکه له دینه خلاف واقع شي معترض اعتراض وکړي د اوربدو وړدی . (۱)

۱۴۳ماده:

څرنګه چي دزمان دمرور شهود اوپر بینه ددعوو دنه اوربدوموده چي دزمان مرور نه دی او ددعوی په نه اوریدوکي داخل نه دی د تقدم حق لري که قاضي له هغه نه مخالف حکم وکړي او معترض اعتراض وکړي د اوریدو وړدی . (۲)

تبصره :

عدلیه محکمې دي دبیناتو په ترجیح او دزمان د مرور په احکامو دکتاب القضاء اوکتاب الشهادات دمجلة الاحکام د مرور زمان په فصل او باب عمل وکړي . (۳)

تبصره :

د دعوو دنه اوربدو میعاد په عام ډول نظر د دعوو دنه اوریدو د اصولو (۳) مادې ته ، پرته له شفع پنځلس کلونه تاکلي شوي دي . (۴)

=آن ، اگر خلاف آن واقع شود ومعترض اعتراض کند قابل سمع است . (۱)

مادۀ ۱۴۳:

چون شهود مرور زمان ومدت عدم استماع دعوی بر بینه که مرور زمان نیست و در عدم استماع دعوی داخل نبوده حق تقدم دارد اگر قاضی مخالف آن حکم کند ومعترض اعتراض نماید قابل سمع است . (۲)

تبصره :

محاکم عدلیه در ترجیح بینات واحکام مرور زمان به فصل وباب مرور زمان کتاب القضاء وکتاب الشهادات مجلة الاحکام العدلیه عمل نمایند . (۳)

تبصره :

میعاد عدم استماع دعاوی عمومًا نظر بماده (۳) اصول استماع دعاوی باستثنای شفع ، پانزده (۱۵) سال تعیین شده است . (۴).

(۱) : الْمَادَّةُ (١٧٤٤) مجلة الاحکام .

(۲) : مَبْنِيٌّ عَلَى الْمَادَّةِ (١٨٠١) مِنْ الْمَجَلَّةِ .ودررالحکام جـ (٤) صـ (٢٩٧) .

(۳) : الْبَابُ الثَّانِي فِي حَقِّ مُرُورِ الزَّمَنِ . دررالحکام جـ (٤) صـ (٢٩٢) .

(۴) : الْمَادَّةُ (١٦٦٠) مجلة الأحکام.

١٤٤ـ ماده :
اقرار له شاهدانوسره په يوه موضوع کې يوځای کيدای نشي بلکي شاهدان د منکر شخص په مقابل کې غوښتل کيږي . (١)

تبصره :
لاندي مواضع له پورتنۍ مادې څخه مستثنی دي : (وکالت ، وصايت ، پر مړي د پور اثبات ، استحقاق). (٢)

١٤٥ ـ ماده :
که په کومه موضوع کې اقرار او شاهدان يو ځای سره موجود شي پرته له استثنائي مواردو حکم پر اقرار کيږي ، نه پر شاهدانو او له هغه څخه په مخالفت کې د معترض اعتراض د اوريدو وړدی . (٣)

تبصره :
که کوم شخص په چا باندي حقوقي دعوی ولري او مدعي عليه په اول کې انکار وکړي قاضي دي شرعا وروسته ددعوی له صحته له مدعي څخه شاهدان وغواړي ، وروسته دمدعي دشهودو له اقامې که مدعي عليه دشهودو تصديق وکړی . او يا يې =

مادۀ ١٤٤:
اقرار با شهود در یک موضوع جمع شده نمیتواند بلکه شهود بالمقابل شخص منکر خواسته میشود . (١)

تبصره:
مواضع آتی از ماده فوق مستثنی است : (وکالت ، وصایت ، اثبات دین بر متوفی، استحقاق). (٢)

مادۀ ١٤٥:
اگر اقرار وبینه (شهود) د رکدام موضوع باهم موجود گردد بجز موارد استثنائی حکم باقرار میشود نه به شهود در مخالفت ازآن اعتراض معترض قابل سمع است . (٣)

تبصره:
اگر شخصی برعلیه کسی دعوی حقوقی دارد ومدعی علیه در اول انکار کند قاضی شرعًا بعد از صحت دعوی از مدعی طلب شهود نماید بعد از اقامه شهود مدعی ، مدعی علیه تصدیق شهود نماید ویا باصل مدعی به برای مدعی اقرار =

(١) : شرح الْمَادَّةُ (١٨١٧) دررالحکام جـ (٤) صـ (٦٢٨) . الفتاوي الکاملية (١٢٣) .
(٢): شرح الْمَادَّةُ (١٨١٧) دررالحکام . جـ (٤) صـ (٦٢٨) . وشرح المادة (١٦٣٤) الاتاسي جـ (٥) صـ (٨٦) .
(٣) : شرح الْمَادَّةُ (١٨١٧) دررالحکام جـ (٤) صـ (٦٢٨) وشرح المادة (١٨١٧) الاتاسي (٦) صـ (٩٦) .

= دمدعي دپاره په اصل مدعی به اقرار وکړی قاضي به دمدعي دپاره دمدعي علیه د اقرار له مخي حکم وکړي ، نه دشهود وله مخي (١)

١٤٦ ـ ماده :

دمرافعې محکمه یا تمیز دي یوازي د معترضینو اعتراضات په نظر کې نه نیسي بلکي دااعتراضونه دي په فیصله کې دغور او ژوري کتني دپاره وسیله وبولي . (٢)

تبصره :

که دمعترض اعتراضونه پرفیصله باندي شوي نه وي مګرفیصله پخپله شرعي نواقص ولري چې دماتېدو وړ وبلل شي لوړه محکمه کولای شي چې دهغې نواقص په نظر کې ونیسي او اقدامات وکړي . (٣)

١٤٧ ـ ماده :

هغه اعتراضونه چې مرافعې ته وړاندي کیږي د تمیز په محکمه کې به هم په نظر کې نیول کیږي . (٤)

تبصره : باید دا اعتراضونه یا فیصله د تمیز غوښتني په صورت کې د تمیز ریاست ته ولیږل شي . (٥)

= کند قاضی برای مدعی بنا براقرار مدعی علیه حکم خواهد کرد نه بنا بر شهود . (١)

مادۀ ١٤٦:

محکمه مرافعه یا تمیز تنها اعتراضات معترضین را درنظر نمیگیرند بلکی اعتراضات متذکره را یک وسیله برای غور ودقت در فیصله میشمارند . (٢)

تبصره:

اگر اعتراضات معترض برفیصله وارد نباشد ولی فیصله خود بخود دارای نواقص شرعی باشد که قابل نقض شمرده شود ، محکمه بالاتر میتواند نواقص آنرا درنظر گرفته اقدامات نماید . (٣)

مادۀ ١٤٧:

اعتراضاتی که به مرافعه تقدیم میگردد در محکمه تمیز نیز در نظر گرفته میشود . (٤)

تبصره: باید اعتراضات متذکره بافیصله درصورت تمیزخواهی به ریاست تمیزفرستاده شود . (٥)

(١) : شرح الْمَادَّةُ (١٧١٦) دررالحکام جـ (٤) . وشرح الْمَادَّةُ (١٨١٧) دررالحکام جـ (٤) صـ (٦٢٨) . الاتاسي جـ (٦) صـ (٩٦) . الفتاوي الکاملیة صـ (١٢٣) .

(٢) : شرح المادة (١٨٣٨) الاتاسي جـ (٦) صـ (١٦٥) .

(٣) : شرح المادة (١٨٣٨) الاتاسي جـ (٦) صـ (١٦٥) .

(٤) : شرح المادة (١٨٣٩) الاتاسي جـ (٦) صـ (١٦٥ـ ١٦٦). الْمَادَّةُ (١٨٠١) مجلة الاحکام

(٥) : شرح المادة (١٨٣٩) الاتاسي جـ (٦) صـ (١٦٥) .

۱۴۸ ـ ماده :

هغه دذوالیدي شهود چې د مطلق ملکیت یا حقیت اونوروپه دعوی کې غوښتل کیږي او له هغه نه دخصمینو تعرفه او دمواضعې داحتمال رفع په نظر کې ده که دمحکمو له خوا دا شهود تزکیه شوي نه وي دفیصلې دتردید موجب او د قضا دحکم د ماتیدو سبب نه دي . (۲)

۱۴۹ ـ ماده :

که دواړومحکمو (ابتدائیې اومرافعې) ددعوی د شرعي شرائطو د فقدان له حیثه وروسته له هغه چې مدعي ته یې شرعا درې کرته د دعوی په تصحیح امر ورکړی وي ، او خپله دعوی صحت نکړي او پخپله غلطه دعوی اصرار وکړي نو له دې امله ددعوی په نه اورېدو حکم وکړي ، په دې صورت چې فیصله نور نواقص ونه لري نو محکوم علیه یوازي په دې کې چې شرعي شرایط یې درلودل اومحکموهغه نه دي اورېدلي تمیز طلب کېدای شي او بس، پس له هغه ددواړومحکموپه فیصله ددعوی دتصحیح د اعتراض مجال نه پاتي کیږي . (۲)

مادۀ ۱۴۸:

شهود ذوالیدی که در دعوی ملکیت مطلق یا حقیت وغیره خواسته میشوند و ازآن تعرفه خصمین ورفع احتمال مواضعه درنظر است اگر ازطرف محاکم شهود متذکره تزکیه نشده باشد موجب تردید فیصله وسبب نقض حکم قضاء نیست . (۲)

مادۀ ۱۴۹:

اگر محاکم دوگانه (ابتدائیه ومرافعه) از حیث فقدان شرائط شرعی دعوی بعد از اینکه مدعی را شرعًا سه مرتبه به تصحیح دعوی امر داده باشد ودعوی خود را صحت نکند وبر دعوی غلط خود اصرار نموده ازآنرو حکم بعدم سمع دعوی نمودند بصورتیکه فیصله نواقص دیگری نداشته باشد محکوم علیه تنها در اینکه شرائط شرعی = داشته ومحاکم آنرا نه شنیده ، تمیز طلب شده میتواند وبس وبعد ازآن بر فیصله های محاکم دوگانه مجال اعتراض تصحیح دعوی باقی نمی ماند . (۲)

(۱) : المادة (۱۸۰۱) مجلة الاحكام .

(۲) : الْمَادَّةُ (۱۸۳۹) مجلة الاحكام. شرح الْمَادَّةُ (۱۸۱٦) دررالحكام جـ (۴) صـ (٦٢٦) .

د حکم طريقې	طریق حکم
١٥٠ـ ماده : د شرعي حکم موجبه اسباب : عبارت له اقـــرار، شاهدان، قســم، نکول او قاطعه قرينې څخه دي . (١)	**مادۀ ١٥٠:** اسباب موجبه حکم شرعی عبارت از اقرار، بینه (شهود) قســم، نکول ،قرینه قاطعه است . (١)
تبصره : د شرعي حکم موجبه اسبابو تفصيلات دعدلـــي محکمو په اداري اصولنامه کې موجود دي . (٢)	**تبصره:** تفصیلات اسباب موجبه حکم شرعی دراصولنامه اداری محاکم عدلی موجود است . (٢)
١٥١ـ ماده : څه وخت چې متخاصمين د قاضي په وړاندي حاضر شي لومړی قاضي مدعي تــه ددعوی د بـــيان پــه غـرض موقع ورکوي . (٣)	**مادۀ ١٥١:** وقتیکه متخاصمین بحضور قاضی حاضرگردند قاضی اول مدعی را بغرض بیان دعوی موقع میدهد . (٣)

(١) : الاتاسي ج (٦) صـ (١٢٩) .

(٢): شرح المادة (١٨٢٧) ج (٦) صـ (١٢٩). و دررالحکام ج (٤) صـ (٦٠٨) .

(٣) : الْمَادَّةُ (١٨١٦) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

۱۵۲ ـ ماده :

که مدعي خپله دعوی له یاده نشوای ویلای نو قاضي دده دعوی په لیکنه سره اوریدلای شي مګرهغه څه چې یي لیکلي دي د قاضي په حضور کې یي ولولي ، او کلماتو ته د اشارې په موقع کې دي هغه یا دغه اشاره وکړي . (۱)

مادۀ ۱۵۲:

اگر مدعی دعوی خود را از یاد گفته نمیتوانست قاضی دعوی اورا کتبًا شنیده میتواند ولی باید آنچه نوشته است بحضور قاضی بخواند ودرموقع اشاره بکلمات این یا همین اشاره نماید . (۱)

۱۵۳ ـ ماده :

که دمدعي دعوی بل شخص لیکلي وي نو لازمه ده چې قاضي هغه ولولي او مدعي هغه موقع په موقع تصدیق کړي ، بیا هم له پورتنۍ مادې سره سم اشارې دي له فامه نه غورځول کیږي . (۲)

مادۀ ۱۵۳:

اگر دعوی مدعی را شخص دیگری تحریر نموده باشد لازم است قاضی آنرا خوانده ومدعی موقع بموقع آنرا تصدیق نماید باز هم طبق ماده فوق از اشاره صرف نظر نشود . (۲)

۱۵۴ ـ ماده :

په منقول کې ددعوی له صحت اوپه غیر منقول کې ددعوی له صحت اود ذواليدي دشهودو اودتعرض په دفع کې پخپله دمدعي ددعوی له صحت او دذواليدي له شاهدانو څخه وروسته دي له مدعي علیه څخه پوښتنه و شي چې دمدعي په ذکر شوې دعوی کې څه وایې ؟ . (۳)

مادۀ ۱۵۴:

بعد از صحت دعوی در منقول وصحت دعوی وشهود ذوالیدی در غیر منقول وصحت دعوی وشهود ذوالیدی خود مدعی در دفع تعرض از مدعی علیه پرسیده شود که در دعوی متذکره مدعی چه میگوید . (۳)

(۱) : شرح المادة (۱۶۱۳) دررالحکام جـ (۴) صـ (۱۷۴) .
(۲) : الْمَادَّةُ (۱۸۱٦) المجلة الاحکام .
(۳) : الْمَادَّةُ (۱۸۱٦) المجلة الاحکام .

تبصره : د تعرض ددفع په دعوی کې دي مدعي علیه ته وویل شي چې خپل حجت او بـرهان حاضر کړي او یا دي په مدعی به متعرض نه شي . (۱)

۱۵۵ ـ ماده :

قاضي دي نه پریږدي چې مدعي علیه دمدعي د ادعا په موقع کې او یا مدعي د ځواب ویلو په موقع کې پر مدعي علیه مداخله وکړي ، بلکي مجلس دي په یو عالم سکون ، ارامی ، اطمنان ، او وقار سره اداره شي . (۲)

۱۵۶ ـ ماده :

که مدعـي علیه په ځواب کـې اقـرار وکړی ، نو شرعا دده له اقرار سره سم پرده باندي حکم صادریږي . اوکه انکار وکړي نو له مدعي څخه له دعوی سره سم شاهدان غوښتل کیږي او که مدعی علیه نه انکار وکړي اونه اقرار بلکي سکوت وکړي ، نو دا سکوت کـتمټ انکار بلل کیږي . (۳)

۱۵۷ ـ ماده :

که مدعي دمدعي علیه له انکارڅخه وروسته خپله دعوی له شرعي سره سم په اثبات ورسوي نو له دفع اوجرح څخه =

تبصره: در دعوی دفع تعرض برای مدعی علیه گـفته شـود که حـجت وبـرهان خود را حاضر کـند ویا در مدعی به مـتعرض نـشود . (۱)

مادۀ ۱۵۵:

قاضی نگذارد که مدعی علیه درموقع ادعای مدعی ویا مدعی درموقع جواب گفتن برمدعی علیه مداخله نماید بلکی مجلس بایک عالم سکون و آرامی و طمانیت ووقار اداره شود . (۲)

مادۀ ۱۵۶:

اگر مدعی علیه درجواب اقـرار کـند شرعًا طبق اقرارش برعلیه اوحکم صادر میشود ، واگر انکار کند از مدعی طبق دعوی طلب (شهود) میشود اگر مدعی علیه نه انکار کـند ونه اقـرار بلکی سکوت نـماید سـکوت مذکـور عینًا انکار دانـسته میشود . (۳)

مادۀ ۱۵۷:

اگرمدعی بعدازانکارمدعی علیه دعوی خودرا مطابق مقررات شرعی باثبات رساند بعد از عـجز مدعی علیه ازدفع =

(۱): الفتا الكاملية صـ (۱۱۳) .

(۲) : شرح المادة (۱۸۲۴) الاتاسي جـ (۶) صـ (۱۲۳) .

(۳) : الْمَادَّةُ (۱۸۲۲) مجلة الاحكام . والاتاسی جـ (۶) صـ (۱۱۸) .

= دمدعي عليه له عجزڅخه وروسته او له شرعي تزکيې څخه وروسته قاضي خپل حکم صادر وي (دشاهـــدانو تزکيه د تزکيې له تعليما تنامې سره سمه اجراء کيږي) . (١)

تبصره :

ددفع مفاد دعوی له منځه وړل دي ، او جرح شاهدان له منځه باسي . (٢)

١٥٨ ـ ماده :

که شاهدان خپل شهادت له ياده ونشي ويلای يا د ځلورو حدودو بيانول دهغو د زياتوالي په نسبت سخت وي ، کولای شي چې خپل شهادت دکاغذ له مخي د محکمې په حضورکې ولولي او داشارې موقع دي له لاسه نه ورکوي . (٣)

١٥٩ ـ ماده :

که مدعي ونشي کولای چې خپله ادعا ثابته کړي او ووايي چې شاهدان نه لرم اودمدعي عليه سوګند وغواړي قاضي کولای شي چې دمدعي دغوښتني لمخي مدعي عليه ته قسم متوجه کړي . (٤)

وجرح وبعداز تزکيه شرعی قاضی حکم خودرا صادر ميکند (تزکيه شهود طبق تعليماتنامه تزکيه اجرآء ميشود) . (١)

تبصره:

مفاد دفع از بين بردن دعوی است ، وجرح شهود را از بين ميبرد . (٢)

مادۀ ١٥٨:

اگر شهود شهادت خود را از ياد گفته نتوانند ويا گفتن حدود اربعه نسبت به کثرت آن دشوار باشد ميتوانند شهادت خود را کتبًا تقديم کنند و شهادت خود را از روی نوشته بحضور محکمه قرائت نمايندوموقع اشاره راازدست ندهند (٣)

مادۀ ١٥٩:

اگرمدعی نتواندادعای خود راثابت کند وبگويدکه شهود ندارم وحلف مدعـــی عليه را مطالبه کند قاضی ميتواند بنا برطلب مدعی بمدعی عليه قـــسم را متوجه نمايد . (٤)

(١) : الْمَادَّةُ (١٨٢٧) و (١٨٢٨) . مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . الْمَادَّةُ (١٨٠١) مجلة الاحكام

(٢) : الْمَادَّةُ المادة (١٦٣١) و (١٧٢٤) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ .

(٣) : الهندية جـ (٣) صـ (٤٦٢) . الهندية كتاب المحاضر، جـ (٦) صـ (١٦٠) .

(٤) : الْمَادَّةُ (١٧٤٢) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . وشرح الاتاسی جـ (٥) صـ (٣٩٤) .

۱۶۰ـ ماده :

که مدعي علیه سوګـند ته ځان جوړ کړی وي شرعا سوګـندکوي اوکه نه له سوګند څخه به نکول وکړي . (۱)

۱۶۱ـ ماده :

دمدعي علیه د سوګند په صورت کـې قاضي دفعلي جګړې په ترک حکم کـوي اوکه پرمدعي علیه د قسم متوجه کولو د تکرارپه صورت کې مدعي علیه نکول وکړي ، نو هغه دمدعي علیه اقرار بولي او دمدعي علیه په الـزام حکم صادر یږي . (۲)

تبصره :

له قسم څخه دنکول په موضوع کې دقصاص دعوی له پورتنی مادې څخه مستثنی ده . (۳)

۱۶۲ـ ماده :

لکه څرنګه چې مدعي په خپله شرعي ادعاکې آزاد دی مدعي علیه هم د خپل ځواب په موقع کـــې په هرډول خپلو شرعي او اصولي مدافعاتوکې دمدعي ددعوی دفع کولای شي . (۴)

مادۀ ۱۶۰:

اگرمدعی علیه آماده سوگندباشد شرعًا حلف مینماید و الانکول از قسم خواهد نمود . (۱)

مادۀ ۱۶۱:

درصورت حلف مدعی علیه قاضی حکم بترک خصومت فعلـی مینماید ودرصورت تکرار عرض قسم برمدعی علیه اگـر مدعـی علیه نکول کند آنـرا اقرار مدعی علیه دانسته حکم بالزام مدعی علیه صادر نماید . (۲)

تبصره:

در موضوع نکول از قسم دعوی قصاص از ماده فوق مستثنی است . (۳)

مادۀ ۱۶۲:

چنانکه مدعی در ادعای شرعی خود آزاد است ، مدعـــی علیه نیز در موقع جواب خود بهرگونه مدافعات شرعـی و اصولی خود دعوی مدعی را دفع کرده میتواند . (۴)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱۷٤۲) مجلة الاحکام .

(۲) : الْمَادَّةُ (۱۷٤۲) الاتاسی جـ (٥) صـ (۳۹٤) .

(۳) : تکملة ردالمحتار جـ (۱) صـ (۳۴۹).

(۴) : الْمَادَّةُ (۱٦۳۱) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ . ودررالحکام جـ (٤) صـ (۲۱۱) .

۱۶۳ـ ماده :

ددعوی ددفع دفع اوله هغې نه زیات صحت لري لکه څرنګه چې دلومړي قاضي (ابتدائیه) په حضورکې اوریدل کیدای شي ددوهم قاضي (مرافعه) په حضورکې هم داوریدو وړدي . (۱)

تبصره :

هغه کسان چې په حیله او تزویر کې شهرت لري له پورتنۍ مادې څخه مستثنی دي . (۲)

۱۶۴ـ ماده :

لاندني مراتب ددفع له اوریدو څخه مستثنی دي :

الف : په دې حال کې چې مدعي علیه ووایي دفع لرم او د خپلي دفع طریقه بیان نکړي .

ب : خپله دفعه بیان کړي مګر ووایي چې ځما ددفع شهود په ښارکې حاضر نه دي .

ج : فاسده دفع چې داوریدو وړ نه وي بیان کړي . (۳)

۱۶۵ـ ماده :

که مدعي علیه داسي دفع وکړي چې =

مادۀ ۱۶۳:

دفع دفع دعوی وزیاده ازآن صحت داردچنانکه بحضور قاضی اول (ابتدائیه) مسموع شده میتواند بحضور قاضی دوم (مرافعه) نیز قابل سمع است . (۱)

تبصره:

اشخاصیکه به حیله وتزویر شهرتی داشته باشند ازماده فوق مستثنی است . (۲)

مادۀ ۱۶۴:

مراتب آتی از استماع دفع مستثنی است :

الف: در حالیکه مدعی علیه بگوید که دفع دارم وطریق دفع خود را بیان نکند .

ب: دفع خود را بیان کند ولی بگوید که شهود دفع من در شهر حضور ندارند .

ج: دفع فاسد غیر قابل سمع را بیان کند . (۳)

مادۀ ۱۶۵:

اگر مدعی علیه چنان دفع نمایدکه =

(۱) : شرح المادة (۱۸۴۰) الاتاسي ج (۶) ص (۱۶۷) .

(۲) : مجمع الانهر ج (۲) ص (۲۷۰) . والبحر ج (۷) ص (۲۲۸) .

(۳) : الاشباه والنظائر ص (۱۹۰) .

= شرع یا عقل یا ظاهر الحال یي ونه مني قاضي کولای شي چې هغه دفع وانه وري (۱)

۱۶۶ـ ماده :

قاضي کولای شي هغه دعوی چې پوهیږي چې حقیقت نه لري اودهغه په نه حقیقت باندي شرعي دلائل ولري وا نه وري . (۲)

۱۶۷ ـ ماده :

که مدعي علیه ووایي چې مدعی به ځما په لاس کــې دفلاني غائب شخص امانت یا عاریت دی چې ماته ئي په اجاره راکړی یا ځما په لاس کې د ګروی په ډول دی ، یا مي له هغه څخه غصب کړی دی او پرهغه باندي شاهدان تــبر کړي او شاهدان هم په خپل شهادت کې غائب شخص په نوم او نسب معــرفــي کړي، دا دفع داوریدو وړه . (۳) .

۱۶۸ ـ ماده :

ددفع دعوی لکه د نورو دعوو په شان شرعي شرائطوته ضرورت لري . (۴)

۱۶۹ ـ ماده :

ددعوی دفع دغیر مدعي علیه له خوا د اوریدو وړ نه ده . (۵)

شرع یا عقل یا ظاهر الحال تکذیب اورا کند قاضی میتواند که آن دفع نشنود (۱)

مادۀ ۱۶۶:

قاضی میتواند دعاوی را که میفهمد که حقیقت ندارد وبــرعدم حقیقت آن دلائل شرعی داشته باشد نشنود . (۲)

مادۀ ۱۶۷:

اگر مدعی علیه بگوید که مدعی به در دست من امانت ، یا عاریت فــلان شخص غائب است ، که به من اجاره داده یا بدست من بطور رهن است ، یا ازو غصب نموده ام وبرآن اقامه شهود کند وشهود نیز در شهادت خود شخص غائب را باسم ونسب معرفی کنند دفع مذکور قابل سمع است . (۳)

مادۀ ۱۶۸:

دعوای دفع مانــند دیگر دعاوی بشرائط شرعی ضرورت دارد . (۴)

مادۀ ۱۶۹:

دفع دعوی از جانب غیر مدعی علیه قابل سمع نیست . (۵)

(۱) :الْمَادَّةُ (۱۶۲۹) دررالحکام جـ (٤) صـ (۲۰۸) .الکاملیة صـ (۱۱۷) .

(۲) : شرح المادة (۱۸۲۹) والاتاسی جـ (۶) صـ (۱۳۳) .الکاملیة صـ (۱۰۶) .

(۳) : شرح المادة (۱۶۳۰) الاتاسي جـ (۵) صـ (۵۹) .

(۴):الهندیة جـ (۴) صـ (۳) . شرح المادة (۱۶۱۳) الاتاسی جـ ۵ صـ (۴) .

(۵) : شرح المادة (۱۶۳۱) دررالحکام جـ (٤) صـ (۲۱۲) . الاتاسی جـ (۵) صـ (۵۶) . غمزعیون البصائر المادة (۱۳۹۰) جـ (۲) صـ (۲۰۵) .

تبصره : که یوتن له وارثانو څخه مدعي علیه وي اوبل وارث دمدعي دفع وکړي مجاز دی دا وارث غیر مدعي علیه یا دریم شخص نه بلل کیږي . (۱)

۱۷۰ ـ ماده :

دمدعي علیه لخوا ددعوی دفع دمدعي دشهودو تعدیل نه بلل کیږي . (۲)

۱۷۱ ـ ماده :

ددعوی دفع پخوا له حکمه یا وروسته له حکمه اوپخوا له شهادته او وروسته له شهادته او وریدل کیدای شي . (۳)

۱۷۲ ـ ماده :

که مدعي علیه ووایي چې مدعی به یي له غایب شخص څخه پیرودلی دی یا غائب شخص دته وربخښلی دی ، یا مدعي پرمدعي علیه دغصب یا غلا دعوی وکړي اومدعي علیه ووایي چې په امانت یا عاریت ډول یي اخیستی دی دمدعي ددعوی دفع کیدای نشي . (۴)

۱۷۳ ـ ماده :

که مدعي علیه په صحیح صورت دفع وکړي نو قاضي د شاهدانو تبرولو په غرض په لازمه اندازه مهلت ورکولای شی . (۵)

تبصره: اگر یکنفر از ورثه مدعی علیه باشد ووارث دیگر دعوای مدعی را دفع کند مجاز است این وارث غیر مدعی علیه یا شخص ثالث شناخته نمیشود .(۱)

مادۀ ۱۷۰:

دفع دعوی از جانب مدعی علیه تعدیل شهود مدعی گفته نمیشود . (۲)

مادۀ ۱۷۱:

دفع دعوی قبل از حکم وبعد ازحکم وقبل از شهادت و بعد از شهادت مسموع شده میتواند . (۳)

مادۀ ۱۷۲:

اگر مدعی علیه بگوید که مدعی به را زا شخص غائب خریده است ویا شخص غائب آنرا بوی هبه نموده است یا مدعی برمدعی علیه ادعای غصب یا سرقه کند ومدعی علیه بگوید که آنرا طور امانت یا عاریت گرفته است دعوی مدعی دفع شده نمیتواند .(۴)

مادۀ ۱۷۳:

اگر مدعی علیه بصورت صحیح دفع کند قاضی بغرض اقامه شهود باندازه لازمه مهلت داده میتواند . (۵)

(۱) : شرح المادة (۱۶۳۱) دررالحکام جـ (۴) صـ (۲۱۲) . بحرالرایق جـ (۷) صـ (۲۳۱) الاتاسي جـ (۵) صـ (٥٦) .

(۲) : شرح المادة (١٦٣١) دررالحکام جـ (٤) صـ (٢١٨) .

(۳) : الاشباه والنظائر صـ (۱۹۰) . شرح المادة (۱۸۴۰) الاتاسي صـ (۱۶۷).

(۴) : مجمع الانهرجـ ۲ صـ (۲۷۱) .

(۵) : شرح المادة (١٦٣١) دررالحکام جـ (٤) صـ (٢١٢) . الاشباه والنظائر ص (١٩٠) . الفتاوي الکاملية صـ (١٠٧) .

تـنـاقـض

١٧٤ ـ ماده :
تناقض هغه دوه خبري دي چې يوه يي دبلي نقيضه وي او له مدعي يا مدعي عليه څخه د قضا په مجلس کې دقاضي په حضورکې ظاهره شي اوهغه ددعوی د صحت مانع ده . (١)

١٧٥ ـ ماده :
لکه څرنګه چې تناقض پخپله د شخص دپاره ددعوی د صحت مانع دی دبل د پاره هم په هغې موضوع کې وکالتًا او وصايتًا دعوی کولای نشي . (٢)

١٧٦ ـ ماده :
لکه څرنګه چې يوحق له دوو تنو څخه متعاقبًا نه اخيستلی کيږي يو حق له يوه جهته له دوو تنو سره متعاقبًا دعوی کيدای نشي . (٣)

مادۀ ١٧٤:
تناقض آن دو کلام است که یکی نقیض دیگری باشد و از مدعی یا مدعی علیه در مجلس قضاء بحضور قاضی ظاهر شود وآن مانع صحت دعوی است . (١)

مادۀ ١٧٥:
چنانکه تناقض مانع صحت دعوی برای خود شخص است برای دیگری نیز درآن موضوع وکالتًا ووصایتًا دعوی کرده نمیتواند . (٢)

مادۀ ١٧٦
چنانکه یک حق از (دو) نفر متعاقبًا گرفته نمیشودیک حق ازیک جهت بادو نفر متعاقبًا دعوی شده نمیتواند . (٣)

(١): الْمَادَّةُ (١٦١٥) و (١٦٤٧) مجلة الاحكام .
(٢) : الْمَادَّةُ (١٦٤٨) مجلة الاحكام .
(٣) : الْمَادَّةُ (١٦٥١) مجلة الاحكام.

۱۷۷ ـ ماده :
لکه څرنګه چې تناقض له یومتکلم څخه ددعوی مانع دی ، له دوو تنو متکلمانو څخه چې حکمًا یومتکلم وبلل شي هم ددعوی مانع دی، لکه وارث او مورث وکیل او موکل ، وصي او موصي . (۱)

۱۷۸ ـ ماده :
هر هغه شی چې دمورث ددعوی مانع کیدای شي ، هغه د وارث ددعوی مانع هم دی . (۲)

۱۷۹ ـ ماده :
تناقض د خفا په محل کې عفوه ده . (۳)

تبصره : پور وړی خپل پـــور، پوروال ته رســوي وروسته له هغه شرعي اواصولي رسید یي په لاس راوړي دا ډول تناقض عفوه دی . (۴)

۱۸۰ ـ ماده :
که کوم شخص د بل پر ذمه دپور دعوی وکړي اومدعي علیه ووایي چې ځما پر ذمه کوم شی نلري، څرنګه چې مدعي شاهدان اقامه کړي کړي مدعي علیه ځوابًا له ابرآء یا دهغه له رسیدلوڅخه اظهار وکـړي دمدعي علیه دوهم قول تناقض نه دی . (۵)

مادۀ ۱۷۷:
چنانکه تناقض از یک متکلم مانع دعوی است از دو نفر متکلم که حکمًا یک متکلم گفته شوند نیز مانع دعوی میباشد مانند وارث و مورث ، وکیل و موکل،وصی و موصی . (۱)

مادۀ ۱۷۸:
هر چیزی که مانع دعوی مورث شده بتواند مانع دعوی وارث است . (۲)

مادۀ ۱۷۹:
تناقض درمحل خفاء عفوه است . (۳)

تبصره: مدیون دین خود رابدائن میرساند پس ازآن رسید شرعی و اصولی آن را می یابد این گونه تناقض عفوه است . (۴)

مادۀ ۱۸۰:
اگر شخصی برذمه دیگری دعوی دین کند ومدعی علیه بگوید بـــر ذمه مـن چیزی ندارد چون مدعی اقامه شهود کند مدعی علیه جوابًا از ابرآء ویا رسانیدن آن اظهار نماید قول دوم مدعـــی علیه تناقض نیست . (۵)

(۱) : الْمَادَّةُ (۱٦٥۲) مجلة الاحكام .
(۲) : الفتاوي الكاملية صـ (۱۱۹) . الاتاسي جـ (٥) صـ (۱۳۸)
(۳) : الْمَادَّةُ (۱٦٥٥) مجلة الاحكام .
(۴) : شرح الْمَادَّةُ (۱٦٥٥) للرستم باز جـ (۲) صـ (۷٥۷)
(٥) : الْمَادَّةُ (۱٦٥۷) مجلة الاحكام . الاتاسی جـ (٥) صـ (۱٥۱) .

١٨١ ـ ماده :

که کوم شخص پر بل باندي دقصاص قتل دعوی وکړي اومدعي علیه ځوابًا انکار وکړي که مدعي شاهدان تیروي او مدعي علیه وروسته له دې دعـــوی دعفوه یا ابـرآء کـــوي تناقض نه بلل کیږي . (١)

١٨٢ ـ ماده :

که کوم شخص د بلچا په مال اقرار وکړي اوحاکم (قاضي) دهغه په تسلیم مدعي علیه ته امر ورکړي وروسته له هغه دا مدعي علیه اظهار وکړي چې دا مال مي ورځخه پیرودلی دی دوهم قول څنګه چې تنا قض دی ، نو داوریدو وړ نه دی . (٢)

*****
***
*

مادۀ ١٨١:

اگـــر شخصـــی بـــرعلیه دیگـــری دعوی قتل قصاصی نماید ، مدعـــی علیه جوابًا انکار کند اگر مدعی اقامه شهود مینماید ومدعـــی علیه پس از دعوی عفوه یا ابرآء مینماید تناقض نمیشود . (١)

مادۀ ١٨٢:

اگر شخصی بمال کسی اقرار کند وحاکم (قاضی) به تسلیم آن برای مدعی علیه امر بدهد پس ازآن مدعی علیه مذکور اظهار کند که مال مذکور را از نزدش خریداری نموده ام قول دوم چون تناقض است قابل سمع نیست . (٢)

*****
***
*

(١) : الْمَادَّةُ (١٦٥٧) مجلة الاحکام .

(٢) : شرح المادة (١٦٣٠) دررالحکام ، ج (٤) صـ (٢١٠) .

دري واړه محکمې	محاکم سه ګانه
۱۸۳ ـ ماده : افغانستان نظر اسلامي اصولوته چې قضا دتخصيص،تقييد اوتجزئې قابليت په محل، زمانه ،حادثه اوموضوع پوري لري دحقوقي اوجزائي دعوو د حل او فصل دپاره ئې دري مرجع ګاني تشکيل کړې دي ابتدائيه محکمه ، مرافعه محکمه ، دتميز رياست . (۱)	**مادۀ ۱۸۳:** افغانستان نظر باصول اسلامی که قضاء قابلیت تخصیص وتقید وتجزیه را به محل ، زمان ، حادثه ، وموضوع دارد سه مرجع را برای حل وفصل دعاوی حقوقی وجزائی تشکیل داده است محکمه ابتدائیه محکمه مرافعه و ریاست تمیز . (۱)
لومړۍ ـ : ابتدائيه محکمه	**اول ـ : محکمهء ابتدائیه**
۱۸۴ ـ ماده : ابتدائيه محکمه حقوقي اوجزائي دعوی که لیږوي اوکه زياتي په خپل حضور کې فيصله کولای شي . (۲) **۱۸۵ ـ ماده :** ابتدائيه محکمه لکه څرنګه چې حقوقي فقري له مقرراتواو دمحاکمو د اداري اصولنامې او د دعوو له اوريدو له اصولو سره سمي حل او فصل کوي جزائي فقري هم له شرعي او اصولي مقرراتو سره سمي فيصله کوي . (۳)	**مادۀ ۱۸۴:** محکمه ابتدائیه دعاوی حقوقی وجزائی را کم باشد یا زیاده بحضور خود فیصله کرده میتواند . (۲) **مادۀ ۱۸۵:** محکمه ابتدائیه چنانکه فقرات حقوقی راحسب مقررات وطبق اصولنامه اداری محاکم واصول استماع دعاوی حل وفصل مینماید ، فقرات جزائی را نیز حسب مقررات شرعی واصولی فیصله مینماید . (۳)

(۱) : مَبْنِيٌّ عَلَى الْمَادَّةِ (۱۸۰۰) و (۱۸۰۱) مِنْ الْمَجَلَّةِ الْأَحْكَامِ .
(۲) : مَبْنِيٌّ عَلَى الْمَادَّةِ (۱۸۰۰) و (۱۸۰۱) مِنْ الْمَجَلَّةِ الْأَحْكَامِ .
(۳) : الْمَادَّةِ (۱۸۰۰) و (۱۸۰۱) مَجَلَّةِ الْأَحْكَامِ .

۱۸۶ ـ ماده :
ابتدائیه محکمه له مقرراتو سره سم د حق العبدي ، حق الله ، او تعزیري جزاؤ دتاکلو واک لري . (۱)

۱۸۷ ـ ماده :
حقوقي دعوی له صلاحیت لرونکو مقاماتو یا له ادعانامې سره سمې دابتدائي محکمې حضورته وړاندي کیږي . (۲)

۱۸۸ ـ ماده :
ابتدائیه محکمه حقوقي اوجزائي فقري بې له مدعي اومدعي علیه نشي قبلولای . (۳)

۱۸۹ ـ ماده :
که مدعي بې له شرعي عذره دعوی پریږدي ابتدائیه محکمه هغه دخصومت پربښودل بولي . (٤)

۱۹۰ ـ ماده :
